# د افغاني سرې میاشتې ټولنه
# د ۲۰۲۶- ۲۰۳۰ کلونو ستراتیژیک پلان

**د عمومي رئیس پیغام**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د بنسټ ډبره په ۱۹۳۴ز کال کې د پېښځپلو، بې وزلو او اړمنو هېوادوالو د کړاوونو کمولو او ورسره بشري مرستو ترسره کولو په موخه کېښودل شوې ده.

دا چې افغانســتان له چاپېریالي بدلونونو څخه د لومړۍ درجه زیانمنېدونکو هېوادونو په لیکه کې دی او په تېرو څو کلونو کې د چاپېریالي بدلونونو له امله د څو ســترو ناورینونو لکه ســېلابونو او زلزلو شاهد و. افغاني سرې میاشتې ټولنې د خپل کاري توان او بشري مرستو پر مټ وکولای شول، چې یادو پېښو ته ځواب ووایي، او په ټولنه کې د یوې ارزښتناکې، بشرپالې او مرستندویه ټولنې په توګه ومنل شي.

همدا راز؛ افغانستان تازه له اوږدې څو کلنې جګړې څخه راوتلی هېواد دی، سره له دې چې جګړه خپله یو ستر ناورین  دی؛ خو د جګړې له کبله زموږ ډېری هېوادوال له هېواد څخه کډوال شول،

په داخل کې بې کوره او بېکاره شول، مالي او بدني زیانونه یې وګالل او د ژوند له ډېرو لومړنیو اسانتاوو څخه بې برخې شول. دا څرګنده ده، چې د یو هېواد له نیمايي ډېر نفوس په ورته برخلیک اخته وي، دوی بېرته نسبي پایښت لرونکي یا لږ تر لږه لومړني حالت ته راګرځول، ډېر څه کولو او وخت ته اړتیا لري.

افغاني سره میاشت د یوې ژمنې ټولنې په توګه غواړي، چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د دې ستراتیژیک پلان ( ۲۰۲۶ – ۲۰۳۰ز) چې منځپانګه یې پېښځپلو، بې وزلو او اړمنو ته بشري خدمتونه وړاندې کول، د ټولنو او ادارې د کارکوونکو د وړتیا پر لوړونې راګرځي؛ له مخې یې د خپل کړېدلي ولس د سوکالۍ، هوساینې او شته ستونزو په حل کې لا ډېر کوټلي ګامونه واخلي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنه د خپلو فعالیتونو او بشري مرستو په ښه توګه هېوادوالو ته د رسولو او نورو مرستو د راجلبولو په پار دغه پنځه کلن ستراتیژیک پلان د خپلو کاري شریکانو په ځانګړې ډول د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال فدراسیون، سره صلیب نړیوالې کمېټې او سیمه ییزو ملي ټولنو په مرسته او د فدراسیون له ستراتیژیک پلان سره په همغږۍ او د دې ټولنې له غړو، رضاکارانو، ځوانانو او کارکوونکو سره له مجلسونو، سلا او مشورو وروسته ترتیب کړی؛ څو یې په تطبیق سره وکولای شو خپلو موخو ته ورسو.

دا چې په تېرو څو کلونو کې زموږ ګڼ شمېر هېوادوال د سختو زلزلو او سېلابونو له امله زیانمن شوي دي او همدارنګه له ګاونډیو هېوادونو څخه په میلیونونو هېوادوال په اجباري توګه بېرته راستانه شول او لا هم راستنېږي، ګڼ شمېر خدمتونو او لاسنیوي ته اړتیا لري، هیله لرم د دغه ستراتیژیک پلان عملي کول به د مالي سرچینو په راجلبولو او د مخیرو وګړو په تشویقولو کې خورا مهم رول ولوبوي، چې په پایله کې به یې وکولای شو په ښه توګه ټول هېواد کې د اړمنو کورنیو لاسنیوی وکړو.

**په درنښت**

**شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور**

**د افغاني سرې میاشتې ټولنې عمومي رئیس**

**لیکلړ**


سریزه ........................................ 4

**د افغاني سرې میاشتې د ۲۰۲۶–۲۰۳۰ کلونو ستراتېژیک پلان مهمې برخې ........................................ 4**

پېښځپلي خلک او اړتیاوې یې ........................................ 4

د ملي ټولنې ځانګړې وړتیاوې ........................................ 5

هغه خلک چې یوازې افغاني سره میاشت ورته لاسرسی لري ........................................ 5

ظرفیت جوړونه ........................................ 5

د ولایتونو په کچه همغږي ........................................ 5

**د افغانستان وضعیت ته کتنه ........................................ 5**

(ii) د داخلي ښکېلو لورو لخوا د افغاني سرې میاشتې تحلیل ........ 8
۳. لرلید، ماموریت او ارزښتونه؛ ........ 11
**لرلید ........ 11**
**ماموریت ........ 11**
۴. موخې، مقاصد، نتایج، او د بریالیتوب شاخصونه ........ 12
**۵. د ۲۰۲۶ – ۲۰۳۰ زکلونو د ستر اتیژیک پلان پلي کول ........ 28**
الف: داخلي او بهرنیو ښکېلو لورو ته د ۲۰۲۶ – ۲۰۳۰ ز کلونو د ستراتیژیک پلان شریکول ........ 28
ب: د پرمختګ څارنه، ارزونه او راپور ورکول ........ 28
ج: په سیمه‌ییزه، ملي او نړیواله کچه د سرچینو برابرول ........ 30

**سریزه**

افغاني سرې میاشتې ټولنې د ۲۰۲۶-۲۰۳۰ ز کلونو لپاره د ستراتیژیک پلان لرلید، ماموریت او موخې د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ د اووه ګونو بنسټیزو اصولو، او په هېواد کې رامنځته شوو بدلولونو ته په کتو نوي کړي دي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنه په ۱۹۳۴ ز کال جوړه شوې ده، او د ښه نمونوي فعالیتونو له کبله په سیمه کې د باوري بشري ارګان په توګه پېژندل کېږي. افغاني سره میاشت د یوه خپلواک بشرپال بنسټ په توګه د حکومت اړوندو وزارتونو سره په همغږۍ په ټول هېواد کې د پېښځپلو او اړمنو د لاسنیوي، هغوی ته د مرستو رسولو او ټولنیز پایداره ثبات لپاره کار کوي، اوس غواړي چې د هېواد په لرې پرتو سیمو کې محرومو خلکو ته بشري خدمتونه وړاندې کړي، نوي ځوانان او رضاکاران جذب او تنظیم کړي، په پلان جوړولو او راپور ورکولو کې له نوې ټکنالوژۍ په ګټنه، ناورینونو ته پر-وخت، چټک او اغېزمن ځواب ووایي، او ټولنې ته په بېلابېلو برخو کې خدمتونه وړاندې کړي؛ څو ټولنې پر ځان بسیا او د ناورینونو پر وړاندې پیاوړي شوې وي او تابیا ولري.

افغاني سره میاشت د خپل قانون له مخې ځانګړی مرستندوی (auxiliary) رول لري؛ څو د اړتیا پر مهال هغه سیمو کې چې امارتي ادارې او نورو بنسټونه نه شي کولای خدمات وړاندې کړي، دغه ټولنه د خپل مرستندویه رول له مخې هلته بشري خدمتونو ترسره کوي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د ۲۰۲۶- ۲۰۳۰ ز کلونو ستراتیژیک پلان د جوړولو پړاو کې پراخې څېړنې ترسره کړې، له ټولنې یې معلومات او نظرونه راټول کړل، د سیمه ییزو دفترونو او نماینده ګیو د معلوماتو له له چاڼ وروسته یې د اړوندو وزارتونو، ملګرو ملتونو او په هېواد کې د نورو فعالو غیر دولتي بنسټونو نظرونه یې هم واخیستل؛ څو د شته نیمګړتیاوو، د فعالیتونو د تکرار مخنیوی، د ملي ټولنې د ځانګړو ظرفیتونو د ځلونې او د هغو برخو د پیاوړتیا لپاره د لارښوونو او وړاندیزونو په برابرولو کې مرسته شوې وي، او د همدې ستراتیژیک پلان د پلي کولو له کبله د بشري خدمتونو اغېزمنتیا تر وروستۍ کچې لوړه شي.

افغاني سره میاشت د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال فدراسیون د غړیتوب له کبله دغه ستراتیژیک پلان د نړیوال فدراسیون د ۲۰۳۰م کال ستراتېژیکو موخو، ننګونو او بدلونونو سره په همغږۍ ترتیب کړی دی.

## د افغاني سرې میاشتې د ۲۰۲۶_۲۰۳۰ کلونو ستراتېژیک پلان مهمې برخې

**پېښځپلي خلک او اړتیاوې یې**

په دې برخه کې هغو فعالیتونو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی، چې په ټولنه کې تر ټولو زیانمنو ډلو وړتیاوې پیاوړې کوي؛ دې کې پېښځپلي، راستنېدونکي کډوال، داخلي بې‌ځایه شوي، یتیمان، معلولین، خوارځواکي ماشومان، **بې کسه سپین ږیري** او د هېواد په لرې پرتو سیمو کې بېوزله او اړمنې کورنۍ شاملې دي. د افغاني سرې میاشتې له لوري وړاندې کېدونکي خدمتونه به په لنډ مهال کې د زیانمنو د اړتیاوو د پوره کولو او اوږدمهال کې د هغوی پر ځان بسیاینې او پایدارۍ لامل کېږي.

**1.1.فعلي وړاندې کېدونکي خدمتونه**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې ډېر تمرکز پر ژغورونکو او هغو بشپړونکو خدمتونو دی، چې شته نیمګړتیاوې پوره کوي؛ لکه بېړنی روغتیایي ځواب خدمتونه، ګرځنده روغتیایي کلینیکونه، د ټولنیز او رواني ملاتړ خدمتونه، حرفوي پروګرامونه، په داسې حال کې چې د حکومت اړوند وزارتونو سره تکرار یا د خدمتونو د فعالیتونو تداخل نه رامنځته کېږي.

## 1.2. هغه خدمتونه چې د تکرار مخه نیسي

د افغاني سرې میاشتې ټولنه د خپل مرستندویه رول سره سم د پلان جوړونې، د خدمتونو د وړاندې کولو او مرستې ترلاسه کوونکو لېستونو لپاره د شهیدانو او معلولینو چارو، د کډوالو او راستنېدونکو چارو او عامې روغتیا وزارتونو، او د پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي ملي اداري سره همغږي کوي؛ څو افغاني سره میاشت د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ د بنسټیزو اصولو په پام کې نیولو سره ځانګړې او نه تکرارېدونکې خدمتونه وړاندې کړې وي.

**د ملي ټولنې ځانګړې وړتیاوې**

د بېړنی ځواب ویلو او تخصصي روغتیایي خدمتونو کې اوږدمهاله ټولنیز ملاتړ په موخه د هېواد په هغو سیمو کې چې نور بنسټونه ورته لاسرسی نه لري، د افغاني سرې میاشتې له ځواکمنې برخې لکه د رضاکارانو پراخه شبکه، د ولایتونو په کچه لاسرسی، د خلکو اعتماد او د ګرځنده خدمتونو د وړاندې کولو ظرفیت څخه ګټه اخیستل.

**هغه خلک چې یوازې افغاني سره میاشت ورته لاسرسی لري**

افغاني سره میاشت په لرې پرتو سیمو کې چې نور بنسټونه ور ته لاسرسی نه لري، داخلي بېځایه شوو، پېښځپلو، جګړې ځپلو کورنیو او ماشومانو ته لومړیتوب ورکوي او د ګرځنده روغتیایي ټیمونو او مرستونونو له لارې تخصصي روغتیایي خدمتونو ور ته وړاندې کوي.

**ظرفیت جوړونه**

افغاني سره میاشت په ټول هېواد کې د خدمتونو د اغېزمنتیا او پراختیا په موخه په بشري سرچینو (رضاکارانو او کارکوونکو)، ټولنې بنسټیزو او نړیوالو همکاریو پانګونه کوي.

**د ولایتونو په کچه همغږي**

د اغېزمنو، شفافو او معیاري بشري خدمتونو وړاندې کولو د تضمین په موخه ګډې کمېټې رامنځته کول، معیاري راپور ورکول، د عملیاتي ټیمونو، بېړنی پلان جوړونې، ظرفیت جوړونې او متخصصینو د جذب په موخه د ولایتونو په کچه همغږي لوړول.

## د افغانستان وضعیت ته کتنه

### (i) د بهرنیو ښکېلو لورو تحلیل

افغاني سرې میاشتې د خپل ستراتیژیک موقف، وړتیاوو او د همغږۍ میکانیزمونو ارزوني لپاره د لومړنیو او ثانوي معلوماتو پراخ تحلیل ترسره کړ. دغه معلومات د ۳۴ ولایتي نماینده ګیو له لارې د رضاکارانو پر مټ د یوې پراخې سروې له لارې راټول شول، او له ګټو اړوند بنسټونو (د پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي اداري، د کډوالو او راستنېدونکو چارو، عامې روغتیا او شهیدانو او معلولینو چارو وزارتونو) سره شریک شول؛ څو لا کره او بشپړ شي.

### هغه مهمې ډلې چې د بنکېلو امارتي ادارو له لوري زیانمنې پېژندل شوي

پېښځپلي، راستنېدونکي کډوال، داخلي بې ځایه شوي، کونډې، یتیمان، معلولین، خوراځواکه ماشومان، بې کسه سپین ږیري، په لرې پرتو او سرحدي سیمو کې له روغتیایي خدمتونو بې برخې او جګړه ځپلي کورنۍ، د اقلیمي بدلونونو له امله زیانمن او د مرستونونو تر څارنې لاندې بې سرپرسته کورنۍ شاملې دي. د پورته ذکر شوو ډلو په اړتیاوو کې بېړنۍ ځواب وینه، روغتیایي خدمتونه، خواړه چمتو کول، رواني او ټولنیز ملاتړ، سرپناه، ساتنه، معیشت، زده کړې او اوږد مهال کې پر ځان بسیا کېدل شامل دي.

په تېر ۲۰۲۵ کال کې شاوخوا ۲۲.۹ میلیونه کسانو چې د هېواد د نږدې **۴۶ میلیوني نفوس** نیمایي برخه جوړوي؛ بشري مرستو ته اړتیا درلوده، په دې کې ۵.۷ میلیونه ښځې او ۵ میلیونه نارینه شامل وو، چې له سختې بېوزلۍ سره مخ وو. (اوچا، مارچ ۲۰۲۵). په داسې حال کې چې د افغاني سرې میاشتې کاري شریکانو له ۴۰۱ ولسوالیو ۱۴۵ ولسوالۍ د لومړیتوب ساحو په توګه پېژندلې وې، د افغاني سرې میاشتې ټولنې ولایتي نماینده ګیو له یاد شمېر څخه ۹۵ ولسوالۍ تر ټولو اړتیا لرونکو ساحو په توګه ټاکلې وې، چې په هغو کې ۶۰ ولسوالۍ تر ټولو زیانمنو وګړو د استوګنې سیمې وې، چې هلته د نورو بشرپالو بنسټونو حضور ډېر محدود یا په نشت حساب و.

افغانستان لا هم د طبیعي پېښو له پراخو ننګونو سره مخ دی؛ لکه زلزلې، وچکالۍ، سېلابونو، واورې ښویېدنې، ځمکې ښویېدنې او درنې واورې، چې په ۲۰۲۴ کال کې د هېواد ټول ۳۴ ولایتونه په یو ډول نه یو ډول د یادو پېښو له امله زیانمن شوي وو. په ۲۰۲۵ کال کې نږدې ۲۱ میلیونه کسانو د اوبو، پاکوالي او روغتیا ساتنې خدمتونو ته اړتیا درلوده (یونیسف). دغه راز، شاوخوا ۵.۸ میلیونه کسان د سرپناه او غیر خوراکي توکو مرستو ته اړتیا لرله، په ځانګړې توګه هغو سیمو کې چې د طبیعي پېښو، سخت ژمي له ګواښ یا د بې‌ځایه شویو او راستنیدونکو کسانو له ډېربښت سره مخ دي (IOM). که څه هم په تدریجي ډول د خوړو په کمښت کې یو څه ښه والی راغلی؛ خو اټکل دا دی، چې شاوخوا ۱۴.۸ میلیونه کسان به د خوړو له کمښت سره مخ وي؛ چې ۳.۵ میلیونه یې خوارځواکه ماشومان او ۱.۱ میلیونه یې ښځې دي (اوچا، مارچ ۲۰۲۵).

له ۲۰۲۳ کال راهیسې له ۳ میلیونو څخه ډېر افغانان بېرته هېواد ته راستانه شوي دي، چې یوازې په ۲۰۲۵ کال کې د راستنېدونکو شمېر ۲.۵ میلیونو ته رسېږي (اوچا، مارچ ۲۰۲۵). په دې وروستیو کې راستانه شوي کډوال او بېځایه شوي کسان له ناپایدارو عایداتو او د ژوند له سختو شرایطو سره مخ دي او ډېری یې په هغو سیمو کې مېشت دي، چې په چټکۍ سره ښاري کېږي؛ خو لومړني خدمتونه لکه روغتیا، د څښاک پاکې اوبه او زده‌کړې په کې کافي نه دي. هغه ماشومان چې په ماینونو او ناچاودو توکو ککړو سیمو کې ژوند کوي، له لوړ خطر سره مخ دي. په ۲۰۲۵ کال کې شاوخوا ۴.۴ میلیونه کسانو د ماین‌پاکۍ خدماتو ته اړتیا درلوده. (اوچا، مارچ ۲۰۲۵).

د ۲۰۲۵م کال په اکتوبر او نومبر میاشتو کې افغاني سرې میاشتې د خپل ستراتیژیک پلان د چمتو کولو په موخه د ۳۴ ولایتي نماینده ګیو او ۷ ساحوي دفترونو له لارې د هېواد په کچه د زیانونو ارزونه وکړه. موندنو وښوده چې د ټولنې په کچه د نماینده ګیو اړوند پېښنو ته د ځواب ویلو ټیمونه، ملي او نړیوال غیر دولتي بنسټونه لکه UNICEF، WFP، MAAO او نورې مرستندویه ادارې په ټولو زونونو کې فعاله دي؛ خو د دوی خدمتونه محدود او زیاتره د ولایتونو په مرکزونو پورې متمرکز دي او لرې پرتې ولسوالۍ لا هم له بشري خدمتونو بې برخې پاتې دي. په ځینو له خطره ډکو ولسوالیو کې په ځانګړې توګه سرحدي او له پېښنو سره مخ سیمو کې بیړنیو او پراخو خدمتونو ته اړتیا ده. د ولایت په کچه د بېړنیو کمپټو پیاوړتیا، د انکشافي پروګرامونو پراختیا، روغتیایي بنسټونو ښه والي او د ملي او نړیوالو بنسټونو تر منځ د همغږیو پیاوړتیا ته جدي اړتیا ده. سره له دې، چې د مستحقینو د پېژندلو په موخه له رضاکارانو او سیمه ییزې ارزونې ګټه اخیستل کیږي، خو بیا هم دوامداره ملاتړ پروګرامونو، بنسټیزو اسانتیاوو او بشري خدمتونو ته جدي اړتیا لیدل کیږي.

په افغانستان کې مخ پر زیاتېدونکو اړتیاوو ته د اغېزمن ځواب ویلو په موخه افغاني سره میاشت د خپلو بنسټیزو اصولو په رڼا کې عامه خدمتونه پیاوړي کوي، د هغو مهمو او د ټولنو پر بنسټ مداخلاتو له لارې بشپړوي چې نور بنسټونه یې په کامل ډول د پلي کولو توان نه لري. دغو خدمتونو کې د بېړنۍ ژغورنې هڅې، ګرځنده روغتیایي کلینیکونه، بېړني امبولانسونه، د وینې سپما/لېږد، بهر ته د ناروغانو لېږد (لکه د سوري زړه او هډوکو په ناروغیو د اخته ماشومانو درملنه)، رواني ټولنیز ملاتړ، د یتیمانو پالنه او حرفوي پروګرامونه شامل دي. د رضاکارانو پراخه شبکه، په ولایتونو کې د سرې میاشتې پیاوړی حضور او د خلکو باور دا زمینه برابروي؛ څو له خطره ډکو سیمو کې په چټکۍ او دوامداره توګه بشري خدمتونه وړاندې شي.
افغاني سره میاشت به د تکرار د مخنیوي لپاره خپلې وړتیاوې لا نورې هم پیاوړي کوي؛ څو د لاندې وزارتونو لخوا د غوښتل شوو مرستندویو دندو/رولونو سره سمون ومومي:

- د پېښنو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي له ملي ادارې سره: په عملیاتي چارو او بیړنیو ځواب وویلو تمرکز کول؛
- د عامې روغتیا له وزارت سره: په هغو سیمو کې چې روغتیایي خدمتونه لږ دي، ګرځنده او بېړني روغتیایي خدماتو وړاندې کول؛
- د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو له وزارت سره: د راستنېدونکو، د داخلي بې ځایه شویو او کوربه ټولنو لپاره د بشري مرستو په همغږۍ کې ونډه اخیستل؛
- د معلولینو او شهیدانو چارو له وزارت سره: د مرسته ترلاسه کوونکو د تایید شوو لستونو پر بنسټ د معلولینو، کونډو او یتیمانو اړتیاوو ته لومړیتوب ورکول؛

امارتي وزارتونو او د ملګرو ملتونو ادارو وړاندیز کړی و چې افغاني سره میاشت باید پر هغو بشپړونکو او ژغورونکو خدمتونو تمرکز وکړي چې د حکومتي دندو/ مرستو د تکرار پر ځای شته تشې ډکې کړي، په ځانګړې توګه په لرې پرتو او له خدمتونو محرومو سیمو کې چې بیړني روغتیایي غبرګون، ګرځنده روغتیایي خدماتو، د وینې بانک او وینې لېږد ملاتړ، د بیړنۍ تخلیې عملیات، او د رواني روغتیا ملاتړ ته اړتیا لري خدمتونه پیاوړي کړي. سربېره پر دې د افغاني سرې میاشتې ټولنې ته سپارښتنه شوې وې چې د خپلو رضاکارانو شبکې، د ځوانانو پروګرامونه او د لومړنیو روغتیایي مرستو ټیمونه لا ډېر فعال کړي؛ څو د چټک غبرګون/ ځواب وړتیاوې په ټول هېواد کې ځواکمنې شي.

هغه کسان چې تر ټولو زیانمن ګڼل کیږي، معمولاً کونډې، یتیمان، معلولین، داخلي بې ځایه شوي او راستنېدونکي دي. تقریباً ټولې پېژندل شوې ډلې د روغتیا، تغذیې، نغدو پیسو مرستې، سرپناه، ساتنې، رواني-ټولنیز ملاتړ، او د ژوند د ښه کولو فرصتونو ګډ ملاتړ ته اړتیا لري. د دې لپاره باید پروګرامونه ګډ او یوځای وي، ارزونه وشي، ټولنه باید د پېښنو د کمولو او په وړاندې د چمتووالي مشري وکړي، او د لنډمهاله بېړنیو مرستو او اوږدمهاله حل لارو ترمنځ توازن رامنځته کړو؛ څو کمزورتیاوې راکمې او د ټولنې مقاومت لوړ شي.

په ټولیز ډول، د افغانستان غرنۍ، لرې پرتې او تیټ عاید لرونکې سیمې تر ټولو ډېرې بشري پاملرنې او د خدماتو پراختیا ته اړتیا لري. سېلابونه، وچکالي، زلزلې او روغتیایي مرکزونو ته محدود لاسرسی هغه عام خطرونه دي چې په ټولو سیمو کې شتون لري، چې له امله یې د مخنیوي تدابیر او چټک غبرګون لا پېچلی کوي. د هېواد په کچه د لومړیتوب لرونکې سیمې او مستحقو کسانو پېژندلو معیارونه باید پیاوړي او سره یو ځای شي؛ څو ټولې اړمنو سیمو ته پراخ، منسجم او اغېزمن پوښښ برابر شي.

د تکرار د مخنیوي لپاره، وزارتونو پر منظمې همغږۍ ټینګار کړی، چې پکې د **مرستي تر لاسه کوونکو ګډ لیستونه**، ګډې سروې ګانې او له کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت سره د داخلي بې‌ځایه شویو او بېرته راستنېدونکو او د معلولینو او شهیدانو چارو وزارت سره د یتیمانو، کونډو او معلولینو په اړه پکې همغږي شامله ده. د همغږۍ پلان جوړونې او بشپړونکو پروګرامونو په مرسته، افغاني سرې میاشتې ټولنه کولی شي اغېزمن، شفاف او نه-تکرارېدونکي بشري خدمتونه وړاندې کړي چې د ټول هېواد د ځواب ویلو هڅې پیاوړې کوي. په دې کې د دې مهمه شبکه، مرستونونه هم شامل دي چې د جګړې له امله کونډو شوو او هغه کورنیو چې سرپرستي یې ښځې کوي د هغوی ظرفیتونه، حرفوي زده کړې او مقاومت پیاوړي کوي.

د باهدفه ډلو په پېژندنه کې د تکرار شتون د سکتوري همغږۍ او یو موټي معلوماتي سیستمونو اړتیا روښانه کوي. د افغان سرې میاشتې ټولنه په ځانګړي ډول وړتیا لري چې د بیړني غبرګون مشري وکړي، رضاکاران را جلب کړي، په ټولنه کې بنسټیز خدمتونه وړاندې کړي، او یو ځای پروګرامونه ملاتړ وکړي، په داسې حال کې چې له تکرار مخنیوی شوی وي. له وزارتونو سره منظمه همکاري د اغېزمنتیا، شفافیت او د دوامداره بشري مرستو تضمین کوي.

په پای کې، ټولو بهرنیو شریکانو د افغاني سرې میاشتې هغه توان ستایلی او هرکلی یې کړی چې نا پېیلې، چټکې، او له وضعیت سره سم بشري مرستې ترسره کوي، عامه خدمتونه بشپړوي او خورا مهمې تشې ډکوي.

**(ii) د داخلي ښکېلو لورو لخوا د افغاني سرې میاشتې تحلیل**

د دې په پوهېدو سره چې د ظرفیتونو پیاوړتیا، د همغږۍ معیاري کول، او ستراتېژیکو ملګرتیاوو پیاوړتیا به د افغانستان تر ټولو اړمنو وګړو لپاره د خدمتونو د لاسرسي، اغېزمنتیا او پایدارۍ په ښه کولو کې مهمه ونډه ولري، د افغاني سرې میاشتې ټولنې د **نوو** موخو د ټاکلو لپاره ګڼې داخلي ارزونې ترسره کړي دي.

د ۲۰۲۴ کال په ډیسمبر کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې د خپل بنسټیز حالت د ارزونې لپاره د اداري او سازماني ظرفیت ارزونه ترسره کړه چې په کې د اوسنیو پیاوړتیاوو ترڅنګ هغه تشې هم په ګوته شوې چې لا ډېرو هڅو او پیاوړتیا ته اړتیا لري. د هغو ټولنو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره چې په بېړنیو او سختو اړمنو شرایطو کې ژوند کوي، او د نورو بهرنیو ادارو د وړتیاوو په همغږۍ، په افغاني سرې میاشتې کې هغه کلیدي وړتیاوې ټاکل شوې چې لا پیاوړتیا ته اړتیا لري. په دې کې د روغتیایي او تخصصي خدمتونو پراخول؛ د رضاکارانو شمېر او مهارتونه لوړول؛ لوژستیک او ګرځنده خدمتونه پیاوړي کول؛ د ټولنې ګډون او عامه پوهاوی زیاتول؛ د چټک غبرګون پراختیا، او له خدمت محرومو سیمو ته د دوامدار روغتیایي خدمتونو او د ساتنې د لاسرسي پیاوړتیا؛ او د نړیوالو همکاریو د جلب لپاره د افغاني سرې میاشتې ټولنې بې‌طرفه موقف اغېزمن کارول شامل دي.

د افغاني سرې میاشتې د کمزورتیاوو پراخه څېړنه او وړتیاوو د ارزونې موندنې چې د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر – نومبر په اوږدو کې ترسره شوې، د ۲۰۲۶–۲۰۳۰ ستراتیژیک پلان لپاره یوه روښانه پیغام وړاندې کوي: د افغاني سرې میاشتې ټولنه باید د عادي او بیړنیو دواړو حالاتو په مهال د بشري غبرګون په مرکزي رول ولاړ

پاتې شي، خو په عین وخت کې باید د عادي او بیړنیو حالاتو په مهال د بشري غبرګون مرکزي رول وساتي، او په ستراتیژیک ډول د پایدارۍ، ځان بسیاینې، مخنیوي، او پراختیایي پروګرامونو تمرکز وکړي. د تخصصي خدمتونو وړاندې کول، د معلوماتو د ثبت او تحلیل سیسټمونو پیاوړتیا، د مهارتونو پراختیا او د رضاکارانو ځواکمنتوب، او د واقعي او لومړیتوب لرونکو اړتیاوو پر بنسټ د پروګرامونو طرحه کول د بنسټیزو خدمتونو د اغېزمنتیا د ښه کولو لپاره ډېر مهم دي.

**دا لاندې لنډیز د افغاني سرې میاشتې ټولنې راتلونکې لورې روښانه کوي؛ څو لا اغېزمن، پایدار او له غوښتنو سره سم خدمتونه وړاندې کړي.**

- **<u>د ریاستونو او نماینده ګیو ترمنځ خپلمنځي همغږي او ستراتېژیکو ملګرتیاوو پیاوړې کول:</u>** د ټولو ریاستونو او نماینده ګیو ترمنځ مؤثرې همغږۍ جوړښت رامنځته کول او له داخلي او نړیوالو بنسټونو سره فعاله همکاري؛ څو د پروګرام یووالی، سمون، او ادغام لا ښه شي.
- **<u>د د پلان، څارنې، ارزونې او راپور آمریت (PMER) د سیستمونو او معلوماتو مدیریت ښه کول:</u>** د دې لپاره چې د شواهدو پر بنسټ پریکړې، پرمختګ، او د بیړنیو حالاتو پر مهال چټک غبرګون لپاره د ستراتیژیکو معلوماتو راټولولو، تحلیل، او استفادې میکانیزمونو پیاوړتیا شوې وي.
- **<u>مالي پایداري او د خدمتونو معیاري کول:</u>** د دوامدارو عایداتي سرچینو رامنځته کول، پر لنډمهاله یا موقتي مرستو تکیه کمول، او خدمتونه له نړیوالو معیارونو سره سمول، څو کیفیت، دوام او اوږدمهاله اغېزمنتیا یقیني شي.
- **<u>د مسلکي او تخنیکي کارکوونکو ظرفیت لوړول:</u>** د مسلکي روزنو یا ټریننګونو برابرول، او د مدیریتي یا اداري، تخنیکي او تحلیلي مهارتونو پیاوړي کول.
- **<u>د مخنیوي، پایدارو او د ستونزو پر وړاندې په ودرېدو متمرکزو پروګرامونو د مهارتونو پراختیا:</u>** د مخنیوي روغتیایي نوښتونو، د ناورین د چمتووالي، د اقلیمي بدلون د غبرګون، او پایدارو معیشتي پروګرامونو ته لومړیتوب ورکول.
- **<u>د ټولنې، رضاکارانو او ځوانانو ګډون زیاتول:</u>** په پروګرامونو کې د حساب ورکولو، روڼتیا، او ځایي مالکیت د پیاوړتیا لپاره د اغېزمن ټولنیز ګډون او نظریاتو اخیستلو میکانیزمونو جوړول.
- **<u>عصري ټکنالوژۍ او ډیجېټلي سیستمونو کارول:</u>** د معلوماتو د مدیریت، څارنې، راپور ورکولو او چټک بشري غبرګون د ښه کولو لپاره د ډیجېټلي وسایلو او پلټفارمونو منل او پراخول.
- **<u>د مخنیوي او پایدارو معیشتي پروګرامونو د ودې د مهارتونو پراختیا:</u>** پر هغو نوښتونو تمرکز چې د زیان‌منونې اصلي لاملونه کموي او د ټولنې ځان بسیاینه او مقاومت لوړوي.

د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې د ۲۰۲۶–۲۰۳۰ ستراتیژیک پلان د چمتووالي په موخه په موازي بحثونو کې، حکومتي وزارتونو، د ملګرو ملتونو ادارو او نورو بهرنیو بنسټونو د افغاني سرې میاشتې ځانګړې وړتیاوې وستاییلې، د سرې میاشتې همدغه وړتیاوې کولای شي د افغانستان په اوسني وضعیت کې داسې خدمتونه وړاندې کړي چې نور بنسټونه یې نه شي برابرولای. راټول شوي نظرونه ښیي چې د روزل شوو رضاکارانو ملي شبکه، د خلکو باور، او د ناپلوي بشري ماموریت له امله افغاني سرې میاشتې کولای شي په لوړ خطر لرونکو، لرې پرتو او جګړه ځپلو سیمو کې چې نورو ادارو ته یې لاسرسی ستونزمن دی فعالیت وکړي.

د بېلګې په توګه، افغاني سرې میاشتې ټولنه کولای شي د طبیعي پېښو پر مهال ګرځنده روغتیایي ټیمونو په چټک ډول سېمې ته ولیږي، د ټولنې پر بنسټ لومړنۍ روغتیایي مرستې او د بیړني غبرګون روزنې برابرې کړي، او د خپلو محلي څانګو له لارې د رواني ناروغیو ملاتړ وکړي. د دې بنسټ فزیکي زېربناوې، لکه روغتیایي مرکزونه، سیمه‌ییز دفترونه، او د ځایي سرچینو او رضاکارانو د جلب وړتیا، افغاني سرې میاشتې ټولنې ته ځانګړې لاس بری ورکوي او وړتیا ورکوي څو ژوند ژغورونکي خدمتونه وړاندې کړي او آن په ناثباته شرایطو کې دوامداره حضور وساتي.

**د بهرنيو شريکانو سپارښتنې**

- **<u>د ډيجېټلي معلوماتي سيستمونو پياوړتيا:</u>** د معلوماتو د راټولولو، څارنې او راپور ورکولو وسايل پياوړي کول؛ څو پلان جوړونه او همغږي پر شواهدو ولاړه او اغېزمنه وي.
- **<u>د رضاکارانو او کارکوونکو روزنه:</u>** په ځانګړي برخو کې د مسلکی روزنو پراخول، لکه رواني ملاتړ، هغه پروګرامونه چې د جنسيت توپيرونه په پام کې نيسي، او د اقليمي تغيراتو په وړاندې مقاومت لوړوي.
- **<u>لوژستيکي وړتيا:</u>** د ګرځنده ټيمونو، د توکو رسولو زنځيرونه او بيړني غبرګون د زيربناوو پياوړتيا، څو لرې پرتو او پېښو ځپلو سيمو ته رسېدل لا ګړندي او اغېزمن شي.
- **<u>د ټولنې ګډون</u>:** د ټولنې د نظرياتو ترلاسه کولو او ګډون ميکانيزمونه پياوړي کول، څو خدمتونه د خلکو د اړتياوو سره سمون ولري او ټول شمول وي.
- د شراکت همغږي: د ملګرو ملتونو له پراختيايي پروګرام (UNDP) او نورو پراختيايي شريکانو سره د همکارۍ پراخول؛ څو بشري هڅې د اوږدمهاله بيا رغونې له موخو سره برابرې او له تکرار څخه مخنيوی وشي.

**له نمايندهګيو سره د بهرنيو ښکېلو لورو شريکې شوې سپارښتنې**

1. له وزارتونو او نړيوالو شريکانو سره د همغږۍ ګډې ولايتي کمېټې جوړول؛
2. د ګډو بيړنيو پلانونو جوړول او پلي کول؛ څو د بحرانونو پر مهال د خدماتو د تکرار مخه نيول شوې وي؛
3. د معياري راپور ورکولو او د معلوماتو شريکولو سيستمونه فعالول؛
4. د کارکوونکو او رضاکارانو لپاره ګډ ورکشاپونه او د ظرفيت لوړولو پروګرامونه ترسره کول؛
5. د مرستو د مؤثرې وېش چارې سمبالولو لپاره ګډ عملياتي ټيمونه جوړول؛
6. د نړيوالو سازمانونو سره د همغږۍ د پياوړتيا لپاره د تجربه لرونکو متخصصينو جذبول؛

**۳. لرلید، ماموریت او ارزښتونه؛**

**لرلید**

افغاني سره میاشت غواړي، یوه داسې مقاومه ټولنه ولري چې وړتیا یې پیاوړې شوې وي. اړمنو خلکو ته او هم په بیړنیو حالاتو کې ښېښنو ته مؤثر ځواب ویونکې وي.

The Afghan Red Crescent Society wants to have a resilient community with strengthened capacity to assist vulnerable people and to respond effectively during emergencies.

**ماموریت**

افغاني سره میاشت د خپل مرستندویه رول په پام کې نیولو سره خپل بشرپال خدمتونه، اړتیاو ته په کتو عیاروي، او د سختو زیان منونکو خلکو د ظرفیت لوړولو او د پایښت لرونکي راتلونکې په لور یې ګامونه پورته کوي.

In line with its auxiliary role, the Afghan Red Crescent Society refreshes its humanitarian services in line with changing needs and strengthens capacities to reduce risks among highly vulnerable populations, taking steps toward a sustainable future of them.

**ارزښتونه**

د افغاني سرې میاشتې بنسټیز اصول د ادارې ارزښتونه دي، او د همدې اوو بسټیزو اصولو پر اساس فعالیت کوي.

**بشرپالنه:** د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ د جګړې په ډګر کې له ټپیانو سره د بې توپیره مرستو د سر ته رسولو کولو په هیله رامنځته شوی دی. دا غورځنګ په خپل ملي او نړیوال ماموریت کې هڅه کوي چې په هر ځای کې د انسان د رنځ او کړاو مخنیوی وکړي او هغه لږ کړي. د دې غورځنګ موخه د انسان د ژوند او روغتیا ساتنه او هغه ته د درناوي تامینول دي. دا غورځنګ د ټولو خلکو ترمنځ متقابل تفاهم، ملګرتیا، مرسته او تلپاتې سوله پراخوي.
**ناپیپلتوب:** دغه غورځنګ د ملت، نژاد، عقیدې، طبقې او سیاسي مفکورې له مخې کوم توپیر نه مني. دغه غورځنګ هڅه کوي چې د وګړو رنځ او کړاو له اړتیاوو سره سم لیرې کړي، خو ناوړه رنځونو او کړاوونو ته د لومړیتوب حق ورکوي.
**ناپلوي:** د ټولو د باور او ډاډ د ترلاسه کولو او ساتلو په خاطر دغه غورځنګ د چا پلوي نه کوي او هېڅکله په سیاسي، نژادي، دیني او ایډیولوژیکي شخړو کې ځان نه ګډوي.
**خپلواکي:** د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ یو خپلواک غورځنګ دی، سره له دې چې ملي ټولنې له خپلو حکومتونو سره د بشري خدمتونو په ډګر کې مرسته کوي او د خپلو هیوادونو د قوانینو تابع دي خو باید تل خپله خپلواکي وساتي، له دې امله به دغه ټولنه په هر وخت کې کولای شي چې د غورځنګ د اصولو له مخې عمل وکړي.

| |
|---|
| **د خپلې خوښې خدمتونه:** د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ د خپلې خوښې یو مرستندوی غورځنګ دی او هېڅکله د ګټې په لټه کې نه دی.<br>**یووالی:** په هر هیواد کې د سره صلیب او یا سرې میاشتې یوازې یوه ملي ټولنه جوړیدای شي، د دغې ټولنې دروازې باید د هر چا پر مخ پرانیستې وي او په ټول هیواد کې د بشري مرستو کار مخ په وړاندې یوسي.<br>**نړیوالتوب:** سور صلیب او سره میاشت یو نړیوال غورځنګ دی چې ټولې ملي ټولنې په کې یو ډول درېځ لري، مسولیتونه او دندې له یو بل سره د مرستې لپاره په برابر توګه وېشي. |

## ۴. موخې، مقاصد، نتایج، او د بریالیتوب شاخصونه

د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې د افغاني سرې میاشتې ټولنه د ملي ټولنو د نړیوال فدراسیون د ۲۰۳۰ کال د ستراتیژۍ په پلي کولو کې مهم رول لري، لاندې موخې، پایلې او د بریالیتوب شاخصونه د ملي او سیمه ییزو شرایطو سره سم ټاکل شوي دي، لومړیتوبونه څرګندوي چې زموږ سیمه ییز کارونه او شراکتونه له سیمه ییزې کچې څخه تر نړیوالې کچې پورې د بشري اغېزو په چوکاټ کې سره نښلوي.

<table>
<tr><td colspan="2">1 موخه: ناورین (جګړې، داخلي بېځایه شوې، له روغتیایي خدمتونو محرومې او اقلیمي بدلون) ځپلې ټولنې په چټکۍ عادي حالت ته راګرځول.</td></tr>
<tr><td colspan="2">1 مقصد: په ۱۷ تر ټولو زیاتو زیانمنو ولایتونو کې د ټولنیزو ټیمونو او ملاتړو جوړښتونو جوړول، د چمتووالي او ځواب ویلو وړتیاوې پې پیاوړې کول.</td></tr>
<tr><th>نتیجه</th><th>د بریالیتوب شاخصونه</th></tr>
<tr><td>1-1-1 د پیاوړي بېړنی ځواب ویلو په موخه په ۱۷ تر ټولو زیانمنو ولایتونو کې د ټولنیزو ټیمونو او ملاتړي جوړښتونو جوړول.</td><td>.1-1-1-1 په ۱۷ ټاکل شویو نماینده کیو کې لږ تر لږه پنځه د ټولنې پر بنسټ ټیمونه (CBT) تاسیس شوي.<br>.2-1-1-1 د ټولنې پر بنسټ د چمتووالي او ځواب پلانونه د کډونیزو پروسو له لارې جوړ شوي.<br>.3-1-1-1 په ټاکل شویو ولایتونو کې د جوړ شویو ټیمونو د ځای پر ځای کولو او مدیریت لپاره د همغږۍ میکانیزمونه رامنځته شوي.</td></tr>
</table>

| | |
|---|---|
| 2-1-1 پر وخت او اغېزمن ځواب ویلو لپاره ټول بنسټیز او لاربښوونې اسناد، وسایل، روزل شوی بشري ځواک او له وړاندې ذخیره شوي توکي چمتو کول. | .4-1-1-1 په ټاکل شوو نماینده ګیو کې د ځانګړو خطرونو لپاره بیړني پلانونه او معیاري عملیاتي پروسیجرونه جوړ او خپاره شوي.۲-۲-۱-۱ په ملي او محلي کچه، د پېښو د مدیریت د وسایلو بستې رامنځته شوې<br>.5-1-1-1 د چاپېریالي اړتیاوو د ارزونو سره سم د زونونو او نمایندګیو په کچه سکتوري ټیمونه جوړ شوي. |
| 1-1-3 د بېړنیو پېښو پر وړاندې د پیاوړي ځواب ویني لپاره د ټولنې چمتو کول. | .6-1-1-1 په ټولو ډیرو اغېزمنو ټولنو کې کلني ، بیا ځلې روزنیز ورکشاپونه تر سره شوي .۲-۳-۱-۱ ټولو ډېر اغېزمن شویو ټولنو لپاره لږ تر لږه یوې پېښې ته انځوریز فعالیت ترسره شوی. |
| 4-1-1 د ناورین مدیریت او بیړنیو روغتیایي مدغم سیستمونو له لارې د اقلیم اړوند شاکونو پر وړاندې د ټولنې مقاومت لوړول، چې په پایله کې زیانمنېدنه راکمېږي، چمتووالی ښه کېږي، او د تطابق وړتیا پیاوړې کېږي. | .7-1-1-1 ټاکل شوې ټولنې مخکینی کاربدونکي خبرتیا سیستمونو درلودونکې دي.<br>.8-1-1-1 د ټاکل شوو ټولنو د ټولنې غړي د اقلیم سره سمون‌موندلي ناورین مدیریت او بیړنیو روغتیایي کړنو په برخه کې روزل شوي دي.<br>.9-1-1-1 په ټاکل شوو ټولنو کې، هر چیرې چې امکان ولري، په ټېټه کچه د خطر کمولو پروژې پلې شوي دي.<br>.10-1-1-1 په دېرې لوړې کچې زیان‌منو ټولنو کې د ناورین مدیریت کمېټې جوړې شوې دي. |

2 مقصد: په ۱۷ تر ټولو زیاتو اړمنو ولایتونو کې د ناورین مدیریت او بیړني روغتیا په برخو کې د نماینده ګیو، زونونو او مرکزي دفتر د تخنیکي او روزنیزو وړتیاوو لوړول.

| نتیجه | د بریالیتوب شاخصونه |
|---|---|
| .1-2-1 د پېښو د مدیریت او بیړني روغتیا په برخه کې تخنیکي ظرفیتونه او وړتیاوې زیاتول، او همدارنګه د ظرفیت لوړونې روزنیز ورکشاپونه جوړول. | .1-1-2-1 په ۱۷ تر ټولو زیان منو ولایتونو کې څو سکټوري روزنیز درسي مواد او د لاربښود اسناد جوړ شوي دي.<br>.2-1-2-1 ۲-۱-۲-۱ ځانګړې تخصصي روزنې د ملي ټولنې په ټولو کچو کې په پام کې نیول شوي دي. |
| .2-2-1 د همغږۍ او ځواب ویلو یا غبرګون موثریت ښه کول. | .1-2-2-1 د مرکز، سیمه‌ییزو دفترونو او نماینده ګیو لخوا د عملیاتو او بیړنیو ځوابونو پر مهال د همغږۍ داخلي میکانیزمونه جوړ او پلي شول.<br>.2-2-2-1 د بیړنیو حالاتو په اړه د نماینده ګیو راپورونه ښه شوي او د سرې میاشتې د رهبرۍ په پریکړو کولو کې مرستندویه دي.<br>.3-2-2-1 پر وخت او اړونده مالومات د غورځنګ شریکانو سره شریک شوي څو د پریکړو او ځواب په ورکولو کې مرسته وکړي. |

| | |
|---|---|
| 1-2-3. د بېړنیو روغتیایي پروګرامونو له اوږدمهاله دوام سره د تولنې زیان کمول، او د راتلونکو کړکېچونو لپاره یې چمتووالی پیاوړی کول. | 1-3-2-1. لږ تر لږه ۲۰ تر ټولو زیان منونکو ټولنو ته د روغتیا، پاکوالي او د ناورین خطر کمولو په برخه کې روزنه ورکړل شوه څو د روغتیایي بیړنیو حالاتو او طبیعي پیښو سره په مؤثره توګه مقابله وکړي<br>2-3-2-1. ۱-۲-۳-۲ ټولنو د پېښو او روغتیایي بیړنیو حالاتو پر مهال او د ځواب وویلو وروسته خپل ظرفیت لوړ کړی.<br>3-3-2-1. د بیړني روغتیایي خدماتو فعالیتونه د روغتیا په پلانونو کې شامل شوی. |
| 1-2-4. د بیړنیو حالاتو د چمتووالي او غبرګون په برخه کې کارکوونکو ته اړینه پوهه او مهارتونه ورکول. | 1-4-2-1. نمایندګۍ ، سیمه ییز دفترونه او مرکزي دفترد ناورین مدیریت او بیړنیو روغتیایي چارو معیاري پروټکولونه لري.<br>2-4-2-1. د روزنې سیستمونه سازماني او په منظم ډول نوي شوي دی.<br>3-4-2-1. ټاکل شوي رضاکاران سمبال او اړین د ظرفیت لوړونې ورکشاپونه ورته وړاندې شوي دي. |
| 3 مقصد: د راستنېدونکو، داخلي بې‌ځایه شوو او جګړو ځپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره د ځانګړو خدمتونو (ورکوو شوو لټون، د ماینونو د خطرونو په اړه پوهاوی، د جسدونو لېږد او روغتیایي او لومړنیو مرستو) پیاوړتیا او اغېزمنتیا. | |
| **نتیجه** | **د بریالیتوب شاخصونه** |
| 1-3-2. د افغاني سرې میاشتې ټولنې ځانګړي خدمتونو (ورکو شوو لټون، ماینونو په اړه پوهاوی، د اجسادو لېږد، د روغتیا او لومړنیو مرستو برابرول) ته د راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او جګړه ځپلو لاسرسی او پیاوړتیا. | 1-1-3-1. د افغاني سرې میاشتې په ټولو کچو کې په اغېزمنه توګه د پنډغالي همغږي او د مدیریت ظرفیتونه پیاوړي شوي.<br>2-1-3-1. ۱-۳-۱-۲ ۱۷ ټاکل شوې نماینده ګۍ لږ تر لږه څلور (۴) د لومړنیو مرستو روزونکي لري.<br>3-1-3-1. ۱-۳-۱-۳ ټاکل شوې نماینده ګۍ د کورنیو اړیکو تینګولو لپاره په پراخه کچه روزل شوي رضاکاران لري.۱-۳-۱-۴ په هر سیمه ییز دفتر کې لږ تر لږه دوه (۲) د کورنیو اړیکو ټینګولو متخصصین کار کوي.<br>4-1-3-1. ۱-۳-۱-۵ د جسدونو د لېږد په برخه کې د د مسلکی روزل شویو رضاکارانو شمیر لس (۱۰) سلنه زیات شوی. |
| 2-3-2. لږ تر لږه ۲۰٪ ټاکل شوې زیانمنونکې ټولنې د موجوده خدماتو په اړه ښه پوهول، او د خوندیتابه کړنې یې عملي کول (لکه د ماینونو پوهاوی او د لومړنیو مرستو بنسټیز مهارتونه). | 1-2-3-1. د افغان نفوس لږ تر لږه پنځه سلنه وکړي د ماینونو په اړه د پوهاوي پیغامونه ترلاسه کوي.<br>2-2-3-1. ۲-۳-۲-۱ د بشري خدمتونو په مرکزونو او د تګ راتګ په تم ځایونو کې مالوماتي غونډې په منظم ډول کې ترسره کېږي |

| | |
|---|---|
| | .3-2-3-1 ۳-۲-۳-۱د تولنې له لوري رهبري کيدونکي نوښـتونه د ماينونو او چاوديدونکو توکو په اړه خونديتوب او عمومي پوهې ته وده ورکړي |
| .3-3-1 په ټاکل شوو ولايتونو کې ټولنيز ميکانيزمونو (لکه د راجع کولو سيستمونه او روزل شوي لومړني ځواب ويونکي) جوړيدو له امله، د بهرنيو مداخلتونو وروسته هم د ملاتړ دوام يقيني کول. | .1-3-3-1 په ټاکل شوو ولايتونو کې د ټولنې غړي د لومړنيو ځواب ويونکو په توګه روزل شوي او د ارجاع سيستمونو په اړه معلومات ورکړل شوي.<br>.2-3-3-1 په ټولو روغتيايي مرکزونو کې د راجع کولو سيستمونو اغيزمنه همغږي رامنځته شوې. |
| .4.3.1 د راستنيدونکو او بې ځايه شوو، د ځانګړو ملاتړو برنامو پياوړي کول. | .1.4.3.1 د موقته موډې لپاره د سرى مياشتى لخوا په صفرى نقاطو کې موقته (انتقالی) کمپونه جوړ شوی دی.<br>.1.4.3.2 د راستنيدونکو د اسکان نهايي ځايونو په نښه شوی دی.<br>.1.4.3.3 د غير غذايي توکی د توزيع او نور انکشـافی برنامی د مهاجرينو لپاره د اسـکان په نهايي ځايونو کی په پام کی نيول شوی دی.<br>.1.4.3.4 د کوربه کورنی لپاره ځانګړی حمايوی برنامه لکه د غير غذايي يا نقدی پيسی د ويش برنامه ځانګړی شوی دی. |
| ۴مقصد: د اغېزمن او مؤثر خدمت وړاندې کولو لپاره د مشارکتونو جوړول، او د ښکېلو لورو د پراخ ګډون له لارې د داخلي او بهرنۍ همغږۍ او حساب ورکونې پياوړتيا. | |
| **نتيجه** | **د برياليتوب شاخصونه** |
| .1-4-1 د اغېزمنو شـراکتونو او د ښـکېلو لورو د ګډون د زياتوالي له لارې داخلي او بهرنۍ همغږي او حساب ورکونې پياوړتيا، او د مؤثره او لوړ کيفيت لرونکو خدمتونو وړاندې کولو ډاډمنتيا. | .1-1-4-1 په ۱۷ نماينده ګيو کې د بيړنيو عملياتو د مرکزونو د مديريت او فعاليت په اړه روزنه ورکړل شوې.<br>.2-1-4-1 د ملی ټولنې په ټولو کچو کې د ځواب جوړښتونه تعريف شوي.<br>.3-1-4-1 په هيواد کې د ټولو ځواب ويونکو شريکانو د پيژندنه بشپړهشوې .<br>.4-1-4-1 د مناسبو استازو ډيټابيس جوړ شوی دی چې د ټولو کچو د همغږۍ فورمونو کې د ګډون لپاره اړين ليستونه لري. |
| .2-4-1 د اړيکو روښـانه کانالونه رامنځته کول، د فعاليتونو تکرار کمول او شفافيت لوړول. | .1-2-4-1 د سرې مياشتې ټول رياستونه او مستقل آمريتونه د ناورينونو پر بنسټ د معلوماتو شريکولو لپاره معياري ارتباطي لارې کاروي.<br>.2-2-4-1 ټولې څانګې د فعاليتونو د همغږۍ له لارې ګډ پلان جوړوي، له تکرار څخه مخنيوی کوي او په ټولو کچو کې شفافيت تضمينوي. |

| | | |
|---|---|---|
| **1-4-3.** د ملګرتیا نوښتونو د پلي کولو له لارې د ټولنې ښکېلتیا. | **1-4-3-1.** | لږ تر لږه پنځه (۵) نوښتګر د مشارکت نوې طرحې د روزنو او د ټولنې د ښکېلتیا اسانتیا برابرولو لپاره رامنځته شوي دي |
| | **1-4-3-2.** | د نوو مشارکتونو له لارې د ټولنې ښکېلتیا او خدمتونو ته لاسرسی اسانه شوی دی. |

| | | |
|---|---|---|
| **۲ موخه:** د ټولنې تر ټولو زیات اړمن وګړي د روغتیایي خدمتونو، د خطرکمولو د ګډو کړنو او دوامداره خدمتونو له لارې د ستونزو پروړاندې لا پیاوړي کول. | | |
| **۱ مقصد:** تر ټولو زیانمنو او لږې پرتو سیمو وګړو ته، په ځانګړې توګه د ښځو او ماشومانو د لومړیتوب لرونکو نیمګړتیاوو پوره کولو لپاره، د لومړنیو روغتیایي خدماتو، د واکسینونو د تطبیق، تغذیې ملاتړ، رواني روغتیا او ټولنیز ملاتړ او په ټولنه کې د روغتیا او لومړنیو مرستو د خدمتونو وړاندې کول. | | |
| **نتیجه** | | **د بریالیتوب شاخصونه** |
| **2-1-1.** زیانمنونکو او لېرې پرتو خلکو ته د لومړنیو روغتیایي خدمتونو په ګډون د مور، نوي زېږدو، ماشومانو او تنکیو ځوانانو روغتیا( RMNCAH )، واکسینونه، تغذیه، رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ (MHPSS) او ټولنیز روغتیایي لومړنۍ مرستې(CBHFA) ، د متوازن او اغېزمن لاسرسي له لارې وړاندې کول؛ څو د درملنې وړ ناروغیو او مړینې کچه یې په څرګنده توګه راټیټه کړل شي. | **2-1-1-1.** | د سرې میاشتې روغتیایي مرکزونه په بشپړ ډول فعاله او مجهز دي، چې پکې ۱۰۰ ګرځنده روغتیایي ټیمونه، 38 فرعی روغتیایي مرکزونه، ۴۷ ثابت کلنیکونه، ۵۷ روغتیایي کمپونه، یو ټولنیز روغتیایي مرکز او د بیړنیو اړتیاو پر بنسټ پنځه نوي ثابت روغتیایي مرکزونه د ګرځنده روغتیایي او تغذیې ټیمونه پکې ګډون لري. |
| | **2-1-1-2.** | د پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومانو د حاد تغذیې سکرینګ پوښښ ۹۰٪ ≤ دی، او د فعال روغتیایي مرکزونو فعالیت ځارل شوی. |
| | **2-1-1-3.** | په ۳۴ ولایتونو کې ټول روغتیایي مرکزونه فعال او مستند ټولنیز فیډبیک او د حساب ورکونې میکانیزمونه لري، لکه روغتیایي کمیټې او د شکایت صندوقونه. |
| | **2-1-1-4.** | د ټولنیز او بنسټیز روغتیایي مرکزونو یو تناسب د حاد تغذیې کمښت درملنه او مدیریت خدمتونه وړاندې کوي. |
| | **2-1-1-5.** | ګرځند روغتیایي او تغذیې ټیمونه لخوا مدغم شوي خدمتونه ځانګړو اشخاصو ته رسېدلي دي. |
| | **2-1-1-6.** | د روغتیایي مرکزونو په ټولو کچو کې د معلولیت سکرینګ، ملاتړ خدمتونه او د بیا رغونې لپاره د لېږد لارې مدغم شوي، او په ټولو ولایتونو کې د معلولیت لرونکو نفوس نقشه جوړه شوې ده. |
| | **2-1-1-7.** | روغتیایي کارکوونکي په ټولشموله معلولیت ته چټک ځواب ووېونکي خدمتونو کې روزل شوي او د مرستندویه وسایلو شتون د لومړنۍ کچې روغتیایي خدمتونو(PHC ) وړاندې کولو برخه ګرځېدلی دی. |

| | |
|---|---|
| 2-1-2. د سرې میاشتې روغتیايي مرکزونو په ټولو خدمتونو کې د مور، نوي زېږدو، ماشومانو او تنکیو ځوانانو روغتیا( RMNCAH)، واکسینونه، تغذیه، رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ (MHPSS) او ټولنیز روغتیايي لومړنۍ مرستې (CBHFA)، تغذیه او واکسین کیفیت، متوازن فرصتونو او دوام د معیاري کلینیکي لارښوونو پلي کول، د زیربناوو عصري کول او د روغتیايي کارکوونکو وړتیاوې دوامداره پیاوړي کول. | 2-1-2-1. د ٪ ۹۰ ملاتړ شویو روغتیايي مرکزونو د RMNCAH ، تغذیه او کتلوي معافیت EPI معیارونه د عامې روغتیا وزارت غوښتنو سره سم عملي شوي.<br>2-1-2-2. د سرې میاشتې ټولو روغتیايي کارکوونکو ۱۰۰٪ د اصلاح شویو RMNCAH ، تغذیه او EPI معیارونو په اړه روزل شوي دي.<br>2-1-2-3. د ملاتړ شویو روغتیايي مرکزونو ۹۵٪ په بشپړه توګه دRMNCAH ، تغذیې او EPI خدمتونو وړاندې کولو لپاره مجهز دي.<br>2-1-2-4. د PHC ۹۰٪ مرکزونو د وړتیا لرونکو له زیږون مخکې پاملرنه (ANC)، له زیږون وروسته پاملرنه (PNC)، کورنۍ تنظیم (FP)، او زېږون (د اړتیا وړ توکو، تجهیزاتو او جوړو شوو بیړنیو لېږدونو او ترانسپورت سیستمونو سره وړاندې شوي.<br>2-1-2-5. د PHC ۹۵٪ مرکزونو د مور او ماشوم روغتیايي خدمتونو معلومات په DHIS-2 کې د بشپړ او پر وخت ریکارډونو سره راپور ورکړی دی. |
| 2-1-3. د بشپړ واکسین پوښښ لوړولو او د لاسرسي توپیرونه کمولو لپاره د واکسین معمول خدمتونه د موبایل اوټریچ، د کولډچېن سیستمونو ښه کول، او د پاتې شوو ماشومانو په تعقیب سره پراخ او پیاوړي کول. | 2-1-3-1. لږ تر لږه ۹۰٪ د منظم واکسین پوښښ په لومړیتوب لرونکو ولسوالیو، د لاسرسي وړ او سخت لاسرسي لرونکو سیمو کې ترلاسه شوي دي.<br>2-1-3-2. د پنځو کلونو څخه کم عمره ۹۰٪ ماشومانو ته د سرې میاشتې ملاتړ لرونکو ولسوالیو کې بشپړ واکسین شوي دي.<br>2-1-3-3. ګرځنده واکسین ټیمونه د عامې روغتیا وزارت لارښوونو سره سم په لومړیتوب لرونکو سیمو کې ځای پر ځای شوي دي.<br>2-1-3-4. د Penta 1 او Penta 3 واکسینونو ترمنځ د ناغه شویو کسانو کچه لږ تر لږه ۱۰٪ راکمه شوې ده.<br>2-1-3-5. ټول پاتې ماشومان، په ځانګړي توګه په لېرې پرتو سیمو کې، پېژندل او واکسین شوي دي.<br>2-1-3-6. د واکسین د کیفیت ساتنې لپاره فعال ذخیره سیستم (کولډچېن) پلي شوی دی. |
| 2-1-4. په ټولنه کې د دوامداره روغتیايي خدمتونو د مالکیت او حساب ورکونې وړتیا پیدا کول؛ څو روزل شوې رضاکارې | 2-1-4-1. ۶۰۰۰ نوې ټولنیز روغتیايي رضاکاران (CHVs) روزل شوي او فعاله دي.<br>2-1-4-2. د CBHFA رضاکاران د روغتیايي مرکزونو سره وصل شوي او د خدمتونو لاسرسی یې اسانه کړ.<br>2-1-4-3. رضاکاران د ټولنې د ځواب ویلو میکانیزم (CRM) پر بنسټ روزل شوي دي. |

| | |
|---|---|
| شـبکې یې پـه اغېزمنـه توګـه د روغتیـا وده، د نـاروغیو مخنیوي او لومړنیو مرستو مشري وکړي. | **2-1-4-4.** د روغتیایي خدمتونو لپاره د ټولنې د فیډبیک میکانیزمونه رامنځته شوي دي.<br>**2-1-4-5.** د اناګانو کمیټو،روغتیایي شـوراګانو،ټولنې اغېز لرونکو او روغتیایي رضـاکارانو شـمېر کې ۲۰٪ زیاتوالی راغلی دی. |
| **۲ مقصد:** د زړه جراحی، مرکزي روغتونونو، رواني روغتیا، او بیارغونې په څېر برخو کې د لوړ کیفیت لرونکو تخصصي/ تشخیصي خدمتونو پیاوړتیا او پراختیا، په داسې ډول چې د پاملرنې د تسلسل په اوږدو کې د خدمتونو ادغام ته ځانګړې پاملرنه شوې وي. | |
| **نتیجه** | **د بریالیتوب شاخصونه** |
| **2-2-1.** د ځانګړو درملنې خدمتونو کیفیت او دوام پیاوړي کول؛ څو له تشـخیص څخه تر رغیدو پورې پرلهپسـې همغږې پاملرنه یقیني شي. | **2-2-1-1.** د کابل د بادام بـاغ روغتون د پوښـښ لاندې لږ تر لږه ۹۰٪ خلکو ته لوړ کیفیت، مدغم او خلکو-متمرکز روغتیایي خدمتونه وړاندې شوي.<br>**2-2-1-2.** د زړه روغتون د بستري ظرفیت لږ تر لږه ۳۰٪ زیات شوی دی. |
| **2-2-2.** د رواني روغتیا او سـاتنې مرکزونو شـتون او لاسـرسـی زیـاتول، او د MHPSS خـدمتونـه د روغتیـایي مرکزونو او ټولنې د پوهاوي له لارې پیاوړي کول. | **2-2-2-1.** اووه نوي د رواني روغتیا د درملنې او سـاتنې مرکزونه فعال شـوي، او په ۵۰٪ روغتیایي مرکزونو (ګرځنده روغتیایي ټیمونه، فرعي او بنسـټیز روغتیایي مرکزونه، ټولنېز روغتیایي مرکز، او روغتیایي کمپونه) کې منظم رواني-ټولنیز سکرینینګ او ملاتړ مدغم شوي دي.<br>**2-2-2-2.** ۵۰۰ روغتیایي کارکوونکي، بیړني ځواب ډلې، او غیر روغتیایي کارکوونکي په رواني لومړنۍ مرستې، رواني روغتیا او ټولنیز ملاتړ روزل شـوي، او ۸۰٪ رواني روغتیا مرکزونه د ناروغانو ډیجیټل پلانونه او د پایلو ثبت سیسـتم کارولی.<br>**2-2-2-3.** د رواني روغتیا په اړه ملي پوهاوي او د عـار مخنیوي کمپاینونه کال کې دوه ځله ترسـره کېږي، او د پوښـښ لاندې سیمو کې د ټولنې د مرستې غوښتنې کچه ۱۰٪ لوړه شوې ده |
| **۳ مقصد:** د اقلیمي بدلونونو، جګړو پورې تړلو خطرونو او روغتیایي ګواښونو د پېښو په زیاتوالي او شدت کې د ټولنې ګډون او مقاومت یې پیاوړی کول. | |
| **نتیجه** | **د بریالیتوب شاخصونه** |

| | |
|---|---|
| 2-3-1. د اقلیمي پېښو (سیلاب، وچکالي، ګرمی) او جګړو پر مهال د روغتیا ساتنې لپاره د ټولنو ښه چمتووالی او وړتیا. | 2-3-1-1. لږ تر لږه ۹۰٪ د سرې میاشتې روغتیایي مرکزونه د اړینو تجهیزاتو، ماهرو کارکوونکو او فعالو بیړنیو مور او نوي زېږېدو ماشومانو روغتیایي خدمتونو سره سمبال دي، او بشپړ او پر وخت معلومات د ځارنې، د روغتیا مدیریت معلوماتي سیستم او د ولسوالۍ روغتیا معلوماتو د دویمې (DHIS -2) نسخې له لارې ثبت او راپور کوي<br>2-3-1-2. د سرې میاشتې تر ملاتړ لاندې روغتیایي مرکزونو کې د میندو د مړینې کچه د بیړنیو حالاتو پر مهال د ټاکل شوو نړیوالو معیارونو سره سم راکمه شوې ده. |

۴مقصد: په ټر ټولو زیانمنو ټولنو او روغتیایي مرکزونو کې د اوبو، حفظ الصحې او پاکوالي د غوره خدمتونو او کړنو (واش) د وړاندې کولو د وړتیا پیاوړتیا او پراختیا.

| نتیجه | د بریالیتوب شاخصونه |
|---|---|
| 2-4-1. زیانمنونکو ټولنو، روغتیایي مرکزونو او ښوونځیو ته د پاکو اوبو، ښه حفظ الصحې او پاکوالي خدمتونو لاسرسي پراختیا. | 2-4-1-1. په ټاکل شوو ټولنو کې د اوبو راټولولو او تصفیې وسایل ځای پر ځای شوي.<br>2-4-1-2. د سیمې ځانګړو شرایطو ته په کتو په ځانګړې توګه د بیړنیو حالاتو پر مهال د معلوماتي، پوهاوي او اړیکو (IEC)مواد جوړ او شریک شوي.<br>2-4-1-3. ۶۰۰۰ روزل شوي رضاکاران او روغتیایي شوراګانې د ټولنو لپاره د روغتیا او واش پیغامونه وړاندې کوي.<br>2-4-1-4. په ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو کې د واش پیغامونو په اړه پوهاوی لوړ شوی دی.<br>2-4-1-5. تر ټولو زیان منونکو ولایتونو کې د ټولنو د ارزونې ظرفیت رامنځته شوی دی. |
| 2-4-2. د (واش) بنسټیزو جوړښتونو، اداري وړتیاوو، او اړینو بیړنیو توکو د شتون له لارې د بیړنیو حالتونو چمتووالی او دوامداره روغتیایي خدمتونو وړاندې کول ښه کول. | 2-4-2-1. اووه سیمه‌ییز ګدامونه پر بیړنیو روغتیایي او واش کڅوړو سمبال شوي.<br>2-4-2-2. په ټولو ټاکل شوو روغتیایي مرکزونو کې د واش بنسټیز جوړښتونه بیارغول شوي ترڅو لږترلږه معیارونو سره سمون ولري.<br>2-4-2-3. د مرکز او ساحې کارکوونکو ظرفیت لوړ شوی ترڅو د واش برنامه په لوړ کیفیت پلې کول یقیني شي. |

۵مقصد: د کارکوونکو او رضاکارانو د مهارتونو لوړول، د موجودو بیړنیو روغتیایي خدمتونو د زیربناوو پیاوړتیا، او د نوښتګرو برخو د پراختیا له لارې د اغېزمن چمتووالي او ځواب ویلو لپاره (د وینې بانک او امبولانس خدمتونو په ګډون) د بنسټیزو وړتیاوو پیاوړي کول.

| نتیجه | د بریالیتوب شاخصونه |
|---|---|

| | |
|---|---|
| 2-5-1. د نوي اړینو خدمتونو لکه د وینې بانک او امبولانسونو په ملي او سیمه‌ییزه کچو پراختیا. | 2-5-1-1. په مرکزي کچه یو بشپړ مجهز او فعال د وینې بانک جوړ شوی، چې د خوندي وینې لېږدونې معیارونه پوره کوي.<br>2-5-1-2. د ۷ سیمو لپاره د لېږد او اړیکو سیستم باندی سمبال اووه بشپړ مجهز امبولانسونه فعال شوي،هر یوه کې دوه روزل شوي کارکوونکي هم شتون لري.<br>2-5-1-3. د امبولانس او د وینې خدمت واحدونه د سیمه‌ییزو روغتیایي مرکزونو او صدمې (ټراما) مرکزونو سره وصل شوي ترڅو د بیړني خدمتونو همغږي باوري کړي. |
| 2-5-2. د پراخې کچې خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د کارکوونکو او رضاکارانو د وړتیاوو او زېربناوو پیاوړي کول. | 2-5-2-1. د سرې میاشتې اووه سیمه‌ییز دفترونه توان لري چې د ناورین د خبرتیا سره سم په ۲۴ ساعتونو کې همغږې روغتیایي ځوابونه پیل کړي.<br>2-5-2-2. د سرې میاشتې د روغتیا بیړني چمتووالي او ځواب پلان (EPRP) اصلاح شوی، د ملي پروتوکولونو سره سمون لري او د مشرتابه لخوا تصویب شوی دی.<br>2-5-2-3. د کارکوونکو او رضاکارانو ۳۰٪ په وبایي چمتووالي، د ناروغۍ خپرېدو ځواب او بیړنیو روغتیایي خدماتو کې روزل شوي دي.<br>2-5-2-4. بیړني طبي ټیمونه(EMTs) ، امبولانسونه او چټک ځواب ټیمونه مجهز او فعال دي ترڅو ټولنې د وختي خبرتیا او ټولنې پر بنسټ څارنې له لارې مقاومت ولري.<br>2-5-2-5. د سرې میاشتې ټولې بیړنۍ روغتیایي مداخلې (لکه د ښځو لپاره خوندي لاسرسی، درناوي کټونه)د خوندیتوب او ټولنیز شمولیت لړترلړه معیارونه په سیستماتیک ډول مدغم شوي.<br>2-5-2-6. د سرې میاشتې ټولو نماینده ګیو د ټولنې پر بنسټ راټول شوي معلومات (CBS data) د روغتیا وزارت د وختي خبرتیا سیستمونو سره وصل شوي دي. |

**۳موخه:** ټولنې د پیاوړو، جامع، عادلانه، حساب ورکوونکو او دوامداره بشري، ټولنیزو او ژوند چارو له داسې خدمتونو برخمنول؛ څو د انساني کرامت لرونکي ژوند ته د لاسرسي ډاډ رامنځته شي.

**۱ مقصد:** د مرستون او د خدمتنو کمیت، ظرفیت، سرچینې او کیفیت پې لوړول؛ څو وکولای شي ډېرو (داخلي او بهرنیو) مرسته ترلاسه‌کوونکو ته خپل خدمتونه وړاندې کړي.

| نتیجه | د بریالیتوب شاخصونه |
|---|---|
| 3-1-1. د زیانمنو وګړو د ملاتړ لپاره زده‌کړې، روغتیا او معیشت خدمتونو پراختیا او منصفانه لاسرسی. | 3-1-1-1. د قضيي مدیریت معیاري سیستمونه او اړوند ورتیاوې جوړې او عملي شوي دي.<br>3-1-1-2. په ټولنیز خوندیتوب کې د افغاني سرې میاشتې نقش تعریف شوی دی.<br>3-1-1-3. د بېړنیو حالاتو وروسته د ټاکل شوو زیان منونکو ټولنو د ملاتړ لپاره د بیا رغونې نوښتونه جوړ شوي دي.<br>3-1-1-4. لږ تر لږه پنځه سلنه (٥٪) کورنۍ د افغاني سرې میاشتې ټولنې ځانګړي تخصصي خدمتونه تر لاسه کوي.<br>3-1-1-5. په ټولنه کې د بې کوره، بې وزله او بې سرپرسته کورنیو د ستونزو کچه کمه شوې ده.<br>3-1-1-6. د مرکز او اوو زونونو په کچه د حوادثو، روغتیا او ټولنیز ګټون ګډ د حرفوي زده کړو کوچنۍ او د عایداتي سرچینو (معیشت) برنامې پلي شوي دي.<br>3-1-1-7. د ټولنې د ګډون په برخه کې ۳۰۰۰ کسانو ته اساسي روزنه وړاندې شوې ده.<br>3-1-1-8. په نویو ټاکل شوو سیمو کې درې (۳) نوي مرستونونه جوړ شوي دي. |
| 3-1-2. په ټول هېواد کې د مؤثرې او فعالې ټولنیزې مرستندویه ادارې په توګه د مرستونونو نقش پیاوړتیا. | 3-1-2-1. مرستونونه د پایښت لپاره د ټولنیز ملاتړ او د مرستو جلبول معیاري نمونې کاروليٍ دي.<br>3-1-2-2. مرستونونه د ټولنیز هوساینې نقش په رسمي ډول د سرې میاشتې په تصویب شوي ماموریت او ستراتیژیکو اسنادو کې شامل شوی دی.<br>3-1-2-3. له اړوندو دولتي چارواکو سره د مرستونونو د خدمتونو د پیاوړي کولو لپاره رسمي همکاری/تفاهم‌لیکونه لاسلیک شوي دي.<br>3-1-2-4. د مرستون مالي سرچینې په ټاکل شوو ټولنو کې د غوره خدمتونو د وړاندې کولو لپاره زیات شوې دي.<br>3-1-2-5. په ملي کچه د مرستونونو خدمتونه لوړ شوي دي. |
| 3-1-3. د مرسته ترلاسه کوونکو ورتیا پیاوړې کول؛ خو خپلواکه او پایښت لرونکې ژوند لارې تعقیب کړي. | 3-1-3-1. ٥٠ سلنه د مرستون هغه اوسېدونکي چې له دې مرکزونو وځي، له وتو وروسته په ټولنه کې پر ځان بسیا دي.<br>3-1-3-2. په ټاکلو مرستونونو کې د سوداګرۍ د ملاتړ مرکز جوړ شوی دی. |

| | |
|---|---|
| | 3-3-1-3. د عایداتو د تر لاسه کولو فعالیتونه د مرسته ترلاسه کوونکو له اقتصادي ارزونې او وړتیاوې سره تړل شوي دي.<br>4-3-1-3. د عاید ترلاسه کولو نوي فرصتونه رامنځته شوي دي.<br>5-3-1-3. په هر مرستون کې د سوداګرۍ د ملاتړ یو مرکز رامنځته شوی دی.<br>6-3-1-3. ۱۰ سلنه هغه ښځې د مرستونونو له خدمتونو برخمنې دي، ښوونیزو او مهارتي فرصتونو ته پراخه لاسرسی لري.<br>7-3-1-3. د معلولیت لرونکو کسانو په کورنیو کې د ژوند کیفیت د اغېزمنو روزنیزو مداخلې له لارې ښه شوی دی<br>8-3-1-3. د اغېزمنو روزنیزو پروګرامونو له لارې د معلولینو لرونکو کورنیو د ژوند کچه ښه شوې ده. |
| **4-1-3.** د داخلي او بهرنیو مرسته ترلاسه کوونکو لپاره د روغتیایي او رواني ټولنیزې ملاتړ د خدمتونو وړتیا او کیفیت د پراخو قضیو مدیریت او وتلو ستراتیژیو پر اساس پیاوړي کول. | 1-4-1-3. د مرستون تخصصي/ ځانګړي خدمتونه د افغاني سرې میاشتې له روغتیایي خدمتونو سره ښه یو ځای شوي دي.<br>2-4-1-3. د ټاکل شوو مرسته ترلاسه کوونکو د ملاتړ لپاره له تخصصي موسسو سره مشارکتونه یا همکارۍ رامنځته شوي دي.<br>3-4-1-3. په سیمه‌ییزه کچه د معیشت نوښتونو لپاره د پایښت پروګرامونو رامنځته کړي دي.<br>4-4-1-3. د مرستونونو په کچه د روغتیا، زده‌کړې او د رواني روغتیا د ځانګې په همغږۍ د ټولنیز ملاتړ په برخو کې نوي تخصصي خدمتونه ترسره شوي دي.<br>5-4-1-3. په مرستونونو کې معیاري روغتیایي او رواني ټولنیزو خدمتونو ته د ګټه اخیستونکو لاسرسی زیات شوی دی.<br>6-4-1-3. هغه ګټه اخیستونکي چې اړتیا لري، تخصصي یا رواني درملنې مرکزونو ته یې د راجع کېدو کچه زیاته شوې ده.<br>7-4-1-3. د ګټه اخیستونکو له ټولنې سره د بیا یوځای کېدو لپاره کړنلارې یا عملیاتي لارښودونه جوړ شوي دي. |
| **۲ مقصد:** د مهارتونو پراختیا، د عاید جوړولو فرصتونو، او معیشت د ملاتړ له لارې تر ټولو زیان‌منو مرسته ترلاسه کوونکو د پایښت لرونکي معیشت او اقتصادي مقاومت پیاوړي کول. | |
| **نتیجه** | **د بریالیتوب شاخصونه** |

| | |
|---|---|
| 1-2-3. د زیان‌منونکو ډلو لپاره ســیمه‌ییز مالکیت او اوږدمهاله اقتصادي ثبات باوري کولو په موخه د ټولنې پرمخ وړونکي ژوندي ملاتړ سیستمونه پیاوړي کول. | 1-1-2-3. د ژوند سرچینو ملاتړ سیستمونه د ټولنې په مشرۍ کمیټو لخوا مدیریت کېږي، او د پرېکړو واک لري.<br>2-1-2-3. مستند بهیرونه لري او د مرستون مرکزونو سره تړلي دي.<br>3-1-2-3. په ټاکل شویو ټولنو کې د اساسي اړتیاوو لپاره په بهرنیو مرستو اتکا ۳۰٪ کمه شوې ده.<br>4-1-2-3. د معیشتي نوښتونو لپاره په سیمه‌ییزه کچه د دوامدارۍ پلانونه جوړ شوي دي. |
| 2-2-3. د ټاکل شــوو ډلو پـه ځـانګړي ډول ښــځو، کورنیو او معلولیت لرونکو کسـانو لپاره د حرفه وي زده کړو پیاوړي کول او د زده‌کړې فرصتونو پراخول. | 1-2-2-3. په ټاکل شوو نماینده ګیو کې د حرفوي زده کړو په ترسره کولو کې زیاتوالی راغلی دی.<br>2-2-2-3. ټول روزنیز مرکزونه په ټاکل شوو سیمو کې سمبال او فعال دي.<br>3-2-2-3. په روزنیزو ورکشاپونو کې د ښځو او د معلولیت لرونکو کسانو کچه زیاته شوې ده.<br>4-2-2-3. ټول روزنیز پروګرامونه د بازار اړتیاوو سره سم طرحه شوي دي. |
| ۳مقصد: د ټولنې ښکېلتیا، حساب ورکول، او د شواهدو پر بنسټ کړنې پیاوړي کول؛ څو د ټولنې مقاومت زیات، باور جوړ او ټولنو ته د افغاني سرې میاشتې لاسرسی ښه شي. | |
| **نتیجه** | **د بریالیتوب شاخصونه** |
| 3-3-1. د پرېکړه‌نیونې او پروګرامونو د پلي کېـدو بهیر کې د ټولنې فعال ګډون زیاتول. | 1-1-3-3. د نماینده ګۍ غړیتوب په ټاکل شویو ولایتونو کې زیات شوی دی.<br>2-1-3-3. د نماینده ګۍ خدمتونه د ټولو سکتورونو لپاره د ټولنې مشورې منعکس شوي دي.<br>3-1-3-3. فعالیتونه د ټولنې په مستقیم ګډون سره پلان یا تعدیل شوي وي. |
| 2-3-3. د بشري مرستو د وړاندې کولو په بهیر کې روڼتیا او حساب ورکونه په ښه توګه رامنځته کول. | 1-2-3-3. د ټولنې د بدلېدونکو اړتیاوو د دوامداره ارزونې لپاره د فیډبک او شــکایتونو مېکانېزمونه د ۱۷ تر ټولو اړمنو ولایتونو کې رامنځته شوي دي تر څو د پالنې مرکزونه هم پکې شامل شي.<br>2-2-3-3. د ټولنې د ګډون او حساب ورکوونې کړنلاره په پام کې نیول شوې ده. |
| 3-3-3. پر معلومـاتو او شــواهـدو ولاړه پرېکړه نیونـه او پلان جوړونه زیاتول. | 1-3-3-3. د بشري مرستو د پلان جوړونې او وړاندې کولو بهیر د معلوماتو د راټولولو او تحلیل د پیاوړي شوي ظرفیت له لارې رهبري شوی دی.<br>2-3-3-3. د بیړنیو اړتیاوو د ارزونې وړتیا په ټولو کچو کې پیاوړې شوې ده.<br>3-3-3-3. په ټولو نماینده ګیو کې ډیجیټل فیډبک مکانیزمونه رامنځته شوي دي. |

**۴ موخه: د ظرفیت جوړونې او لوړونې لپاره کارکول.**

افغاني سره مياشت يوه پياوړې، با ظرفيته او د مناسب جوړښت لرونکې ملي ټولنه ده چې اړمنو خلکو ته دوامداره، ناپېيلي، ناپلوي، اغېزمن، پايښت لرونکي، اړوند بشري خدمتونه وړاندې کوي ، او خپلو کاري شريکانو ته حساب ورکوونکې ده.

**۱ مقصد:** تر ټولو اړمنو ولايتونو کې د نمايندګيو عمومي او ځانګړي/مسلکي ظرفيتونو پياوړتيا او پراختيا، او د غوره خدمتونو وړاندې کولو لپاره له شرايطو او ملي ټولنې د ستراتيژيکو موخو سره سم اساسي معيارونه رامنځته کول.

| **نتيجه** | **د بریالیتوب شاخصونه** |
|---|---|
| **4-1-1.** تر ټولو زيانمنونکو ولايتونو کې نمايندهګيو د تخصصي وړتياوو پياوړتيا، او د خدمتونو د وړاندې کولو لړ تر لړه معيارونه پوره کول؛ څو بشري مرستې پر وخت، عادلانه او شرايطو سره سمې وړاندې شي. | **4-1-1-1.** لږ تر لږه جوړښتي او خدماتي معيارونه جوړ او پلي شوي دي.<br>**4-1-1-2.** د نماينده ګيو وړتياوې، مهارتونه او نيمګړتياوې پېژندل شوې او اصلاح شوې دي.<br>**4-1-1-3.** د عملياتي سيمو خدمتونه د اړتياوو سره سم تنظيم شوي او پلي شوي دي. |
| **4-1-2.** د عملياتو ښه لارښوونې او ملاتړ په موخه د نماينده ګيو رهبري او مديريت له نوي معاصرو نوښتونو سره اشنا کول. | **4-1-2-1.** د رهبرۍ ښې نمونې جوړې شوې دي.<br>**4-1-2-2.** په نماينده ګيو او ولسواليو کې د ښه استازيتوب پروسه ازمويل شوې ده. |
| **4-1-3.** په ولاياتونو کې تر ټولو زيان منو ساحو کې د نماينده ګيو فعاليت او شتون زياتول. | **4-1-3-1.** په ټولو زيان‌منو او لرې پرتو سيمو کې د رضاکارانو او غړو شمېر پراخ شوی دی. |
| **4-1-4.** په نماينده ګيو کې په کافي اندازه د سرچينو شتون چې د خپلو فعاليتونه ملاتړ وکړای شي او په ټولنو کې خپل شتون وساتي. | **4-1-4-1.** د نماينده ګيو د سرچينو د راټولولو ستراتيژۍ جوړې او پلي شوې دي.<br>**4-1-4-2.** د نماينده ګيو د عملياتو او خدمتونو د ملاتړ لپاره له بېلا بېلو شريکانو سره هوکړې شوې دي. |
| **4-1-5.** د کارکوونکو، رضاکارانو، غړو، ملکيتونو او د افغاني سرې مياشتې ټولنې د بشري عملياتو محافظت او | **4-1-5-1.** د مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره په کارکوونکو او رضاکارانو کې پانګونه شوې او دوی د ټولنې د ملاتړ سبب ګرځېدلي دي. |

| | |
|---|---|
| مصـونیت د غورځنګ د اوو اصـولو، د خوندي لاسرسـي چارچوکاټ، پلان او روغتیا پاملرنه په خطر کې لارښـــوونو او د محافظت او مصـونیت د لارښـودونو او کړنلارو سـره سم باوري کول. | **.1-5-1-5** د افغاني سـرې میاشـتې ټولنې ۱۰۰ سـلنه عملیاتي کارکوونکو، غړو او رضـاکارانو د محافظت او مصـونیت او HCiD اړوند لارښـوونه ترلاسه کړي دي او په اړه یې روزنه ورکړل شوې ده.<br>**.1-5-1-6** د محافظت او مصـونیت معیارونو باوري کولو او د ښـو امنیتي اقداماتو کلتور ته د ودې ورکولو لپاره، د ملي ټولنې د ټولو دفترونو د مصـونیت ارزونه ۱۰۰ سـلنه ترسـره شـوې ده او ټول دفترونه په محافظت او نورو محافظتي وسایلو سمبال شـوي دي.<br>**.1-5-1-7** د محافظت او مصـونیت پلان او چارچوکاټ په مرکز، زونونو او نمایندګیو په کچه په بشـپړه توګه پلی شـوی دی. |
| **۲ مقصد:** د افغاني سرې میاشتې د رضاکارۍ او ځوانانو د مدیریت پیاوړتیا او پراختیا؛ څو د افغانستان په کچه تر ټولو اړمنو ولایتونو کې د جذب، ښکېلتیا، او ساتنې سلنه ٪۴۰ زیاته شي. | |
| **نتیجه** | **د بریالیتوب شاخصونه** |
| **.4-2-1** تر ټولو اړمنو ولایتونو کې د ځوانـانو او رضـــاکـارانو د جذب، ښکېلتیا، او ساتنې کچه ٪۴۰ زیاتول. | **.1-1-2-4** په ټولو ولایتونو کې د ځوانانو او رضاکارانو د ځانګړتیاوو تنوع زیاته شوې ده.<br>**.2-1-2-4** د رضاکارۍ او ځوانانو پالیسۍ او ستراتیژۍ نوې شوې دي<br>**.3-1-2-1** د رضاکارانو مدیریت سیستم ټولو ولایتونو ته پراخ شوی.<br>**.4-1-2-4** رضاکاران او ځوانان په ټولو ولایتونو کې په مؤثره توګه هڅول شوي دي.<br>**.5-1-2-4** د بشـــري خدمتونو په وړاندې کولو کې د ځوانانو او رضـــاکارانو خوندیتوب او امنیت په پراخه کچه پیاوړي شـوي دي. |
| **.2-2-4** په ټول افغانســـتان کې د ځانګړو یا مســـلکي خدمتونو د وړاندې کولو او مداخلې لپاره د رضـاکارانو ځواک مسـلکي کول. | **.1-2-2-4** د افغاني سـرې میاشـتې د رضاکارانو د مسلکي دندو په ترسره کولو کې د مرستې لپاره تخنیکي ټیمونه رامنځته شـوي دي.<br>**.2-2-2-4** له چارواکو او تخنیکي سـازمانونو سره هوکړې شـوې ترڅو د اړتیا په صورت کې د ځانګړو تخنیکي دندو ملاتړ وکړي. |
| **۳مقصد:** د سیستمونو په عصري کولو، سرچینو کې د بدلون راوستلو، او په بشري ځواک پانګونې سره د افغاني سـرې میاشـتې ظرفیت او حساب ورکونه پیاوړې کول؛ څو روڼتیا، معیارونه، او د عملیاتو ملاتړ او خدمتونو په ټولو کچو کې پر وخت وړاندې کول یقیني شي. | |
| **نتیجه** | **د بریالیتوب شاخصونه** |

| | |
|---|---|
| 4-3-1. د افغاني سرې میاشتې د پرمختللو سیستمونو، متنوعو سرچینو او ورې بشري ځواک په لرلو سره، د حساب ورکونکې ملي ټولنې په توګه فعالیت کوي، څو په ټوله کچه د عملیاتو ملاتړ او بشري خدمتونه یې په معیاري او شفافه توګه پر وخت وړاندې کړل شي. | 4-3-1-1. د نماینده ګیو په کچه د منابعو راټولولو ظرفیت د مالي پایښت لپاره د اړوندو روزنیزو نوښتونو پر مټ پیاوړی شوی دی.<br>4-3-1-2. د سازمان جوړښت د عملیاتي اړتیاوو سره سمون لري او د خدمتونو وړاندې کولو ملاتړ کوي.<br>4-3-1-3. سکتوري او اداري پالیسۍ/لارښودونه د بشري سرچینو مدیریت او عملیاتي فعالیتونو لپاره اصلاح او پلي شوي.<br>4-3-1-4. د مالي سرچینو د راټولو لپاره معیاري سیستمونه رامنځته شوي دي.<br>4-3-1-5. ۵۰٪ پانګوال د مالي بسپنو د راټولولو لپاره لیدلي دي. |
| 4-3-2. د مثمریت او حساب ورکونې د ښه والي لپاره د افغاني سرې میاشتې عملیات ډیجیټل کول. | 4-3-2-1. ټولو نماینده ګیو ته د اړتیا سره سم انټرنیټ او کافي تخنیکي وسایل ورکړل شوي دي.<br>4-3-2-2. د عملیاتو د ملاتړ لپاره اړین معیاري ډیجیټلي سیستمونه له نویو پلټفرمونو سره رامنځته او اړوند کارکوونکو IT/IM مهارتونه ترلاسه کړي دي.<br>4-3-2-3. د معلوماتو د مدیریت لارښودونه په ټولو کچو کې رامنځته او پلي شوي دي.<br>4-3-2-4. ۸۰٪ کاغذي پروسې ډیجیټل شوې دي. |

| | |
|---|---|
| **۴ مقصد:** د ملي شرایطو او د سازمان د لرلید او مأموریت سره سم نوی د رهبرۍ او عملیاتي ماډل رامنځته کول. | |
| **نتیجه** | **د بریالیتوب شاخصونه** |
| 4-4-1. د سرې میاشتې قانون او اساسنامه اصلاح کول او د نوو حقوقي بنسټونو سره سمون ورکول. | 4-4-1-2. قانون او اساسنامې د اړتیا پر اساس بدلون موندلی دی.<br>5-4-1-2. د اصلاح شوې اساسنامې او قانون پر بنسټ داخلي طرزالعملونه او پالیسۍ تنظیم، ترتیب او د غورځنګ د پالیسۍ سره سمون ورکړل شوی دی.<br>6-4-1-2. د قانون او اساسنامې په اړه پوهاوی او نظارت ښه تر سره شوي دي. |
| 4-4-2. د غړیتوب بنسټ او سیستم له اساسنامې سره سم پیاوړی او منظمول. | 4-4-2-1. د غړیتوب لپاره د اساسنامې مطابق تګلارې، طرزالعملونه او لارښودونه ترتیب او منظور شوي دي.<br>4-4-2-2. د غړو د حقوقو او مکلفیتونو میکانیزم رامنځته او عملي شوی دی. |
| **۵ مقصد:** د افغاني سره میاشتې یو متحد، شفاف، او مسؤول سیستم لري چې د پلان جوړولو، څارنې، ارزونې، راپور ورکولو، د معلوماتو مدیریت، ټولنیزې ښکېلتیا، او د غبرګون له عملیاتو څخه د زده کړې برخې پوښي. دا سیستم په ټولو سازماني یا اداري کچو کې د شواهدو پر بنسټ پرېکړه نیونه ممکنوي او شریکانو ته د حساب ورکونې ډاډ رامنځته کوي. | |

| نتیجه | د بریالیتوب شاخصونه |
|---|---|
| .1-5-4 د مرکزي، ســیمه‌ییزو دفترونو او نماینده ګیو په کچه د کارکوونکو او رضـــاکارانو د پلان جوړونې، څارنې، ارزونې، راپور ورکونې، د معلوماتو مدیریت، ټولنیزې ښـــکېلتیـا، حســـاب ورکونې او له تېروتنو زده کړه، مهارتونه او عملي وړتیاوو لوړول. | .1-1-5-4 د مرکزي، ســیمه ییزو، نماینده ګیو ریاســتونو او څانګړو واحدونو کلنۍ او منځمهاله د بیاکتنې پلانونه ۹۰ سلنه د ستراتیژیک پلان له موخو سره سم او د معیاري پلان جوړونې پر چوکاټ ولاړ او پلي شـوي دي.<br>.2-1-5-4 د مرکزي، سـیمه ییزو، نماینده ګیو ریاسـتونو او څانګړو واحدونو پروګرامونه او پروژې معیاري شـوې او د پلان جوړونې، څارنې، ارزونې او راپور ورکولو وسـایل او بڼې ۹۰ سـلنه د روښتیا او حسـاب ورکونې لپاره پیاوړې شـوي دي.<br>.3-1-5-4 د مرکز، سـیمه ییزو او نماینده ګیو په کچه یو پرمختللی او معیاري د عملیاتي معلوماتو د مدیریت سیسـتم جوړ او پلی شـوی دی.<br>.4-5-1-4 پروګرامونه او پروژې په مؤثره توګه معیاري شـوې او د جنسـیت، ټولنیزې ښکېلتیا او د نظرونو او شـکایتونو میکانیزمونه د ملي ټولنې او نړیوال غورځنګ د منل شـویو معیارونو سره سم پلي شـوي دي . |
| .2-5-4 پـه پلان جوړونـه، څـارنـه، ارزونـه، او راپـور ورکولو کې د نماینده ګیو په کچه د کارکوونکو او رضـــاکارانو وړتیاوې پیاوړي کول. | .1-2-5-4 د مرکزي، ســیمه‌ییزو دفترونو او د نماینده ګیو اړوند ۹۰ ســلنه کارکوونکي او رضـــاکاران د پلان جوړونې، څـارنې، ارزونې او راپور ورکولو پـه برخـه کې روزل شـــوي او ظرفیت یې لوړ شـــوی دی او وړتیـا لري چې د ستراتیژیک پلان سره سم کلني عملیاتي پلانونه جوړ، پلي او د پروژې پرمختګ تعقیب کړي دي.<br>.2-2-5-4 په پروګرامونو کې ښـــکېل ۸۰ ســـلنه کارکوونکي او رضـــاکاران توانېدلي چې په موثره توګه معیاري د څارنې او ارزونې وسایل او میتودونه وکاروي، چې پکې ستراتیژیک شاخصونه/ نښې او منطقي چوکاټ شـامل دي.<br>.3-2-5-4 په بشـــري غبرګون کې ښـــکېل ۸۰٪ کارکوونکي او رضـــاکاران د ټولنې ښـــکېلتیا، د نظرونو او شـــکایتونو د میکانیزمونو، او معیاري ټولنیزې حساب ورکونې په لارو چارو کې اړینه روزنه ترلاسـه کړې او په مؤثره توګه یې په عمل کې پلي کړې ده.<br>.4-2-5-4 ۸۰٪ د پروګرام او ځواب وینې ټیمونو تېر درسـونه په سـیسـتماتیک ډول مسـتند کړي دي، د څارنې او ارزونې پایلې په مؤثره توګه کارولې دي، په پرمختللې پلان جوړونه او راتلونکو عملیاتي ځوابونو کې مدغم کړې دي. |

## ۵. د ۲۰۲۶ – ۲۰۳۰ ز کلونو د ستراتیژیک پلان پلي کول

**الف: داخلي او بهرنیو ښکېلو لورو ته د ۲۰۲۶ – ۲۰۳۰ ز کلونو د ستراتیژیک پلان شریکول**

**داخلي ښکېلو لورو ته د ستراتیژیک پلان رسونه**
د ستراتیژیک پلان چاپي نسخې به له داخلي ښکېلو لورو سره شریکېږي. د ستراتیژیک پلان لرلید، ماموریت، موخې او ارزښتونه به د روښانه انفوګرافیکونو له لارې په مرکزي دفتر، سیمه‌ییزو دفترونو او نمایندګیو کې لګول کېږي. د داخلي پوهاوي او لارښوونې له غونډو وروسته، د ستراتیژیک پلان د پنځو کلونو عملیاتي پلانونو چمتو کېږي. د عملیاتي پلان کارونه به په ګانټ چارټونو کې په ښکلي او روښانه ډول چمتوکیږي او په مرکزي دفتر، سیمه‌ییزو دفترونو او نمایندګیو کې لګول کېږي؛ څو ټول داخلي ښکېل لوري وکولای شي د پلي کېدو پرمختګ په اسانۍ سره تعقیب کړي او په دوامداره توګه له کارونو خبر پاتې شي. د دې لپاره چې پلان د ټولو داخلي ښکېلو لورو لپاره د پوهېدو وړ وي، دا به په بېلابېلو بڼو کې چمتو شي؛ لکه د غړو، رضاکارانو او ځوانانو لپاره په کوچني او لنډ چاپي شکل.

**بهرنیو ښکېلو لورو ته د ستراتیژیک پلان رسونه**
د ستراتیژیک پلان چاپي او ډیجیټلي نسخې به له مهمو شریکانو او بهرنیو ښکېلو لورو سره شریکېږي. د پلان بریښنایي نسخه به د افغاني سرې میاشتې ټولنې پر وېبپاڼه خپرېږي او ورسره به د پرمختګ منظم راپورونه او انفوګرافیکونه هم وړاندې کېږي. د انفوګرافیک بڼې به د بریښنایي، چاپي او ټولنیزو رسنیو له لارې د عامو خلکو د خبرولو لپاره شریکې شي. همدارنګه، د مهمو بهرنیو ښکېلو لورو لکه وزارتونو، د ملګرو ملتونو ادارو او مرستندویه‌کوونکو (شریکانو/ډونرانو) لپاره به مناسب او اړوند بڼې چمتو شي. د ۲۰۲۶ کال په لومړیو کې به د ستراتیژیک پلان د رسمي پیل لپاره حضوري او آنلاین ناستې ترسره شي، او ورپسې به په بېلابېلو نړیوالو او سیمه‌ییزو فورمونو کې وړاندېزونه دوام ولري، لکه د دوحې ناستې او د غورځنګ او بهرنیو شریکانو لپاره د ګرد مېز بحثونه.

**ب: د پرمختګ څارنه، ارزونه او راپور ورکول**
د افغاني سرې میاشتې ټولنې موجود مسوده ییز کلني او سکتوري پلانونه او ستراتیژۍ به له دې نوي ستراتیژیک پلان سره سمون مومي او د هر مرکزي ریاست، سیمه‌ییز دفتر او نمایندګۍ لپاره به د پلي کېدو د لارې نقشې پکې شاملې وي، چې په روښانه ډول به لاندې ټکي په کې وي.
د ۲۰۳۰ کال تر پایه د بریا لرلید؛
د ۲۰۳۰ موخو ته د رسېدو لپاره د هر کال مهم پړاوونه؛
د ښکېلو لورو پېژندنه (اړوند ریاستونه، سیمه‌ییز دفترونه او د نمایندګیو اداره یا مدیریت)؛

د افغاني سرې میاشتې رهبري او ریاستونه، ګډون کوونکي ریاستونه او د حساب ورکونې څرنګوالی؛ ګډون کوونکي شریکان، که موجود وي.

هر پلان او ستراتیژي موخې، پایلې او شاخصونو لري، فعالیتونه، بودیجه، مسؤلیتونه، کلني مهم پړاوونه او ګډون کوونکي شریکان په کې واضح لیکل شوي وي. د همغږۍ او اغېزمنتیا د پیاوړتیا لپاره یې کال په کال کتنه کېږي.

موږ د څارنې او راپور ورکولو په برخه کې د روڼتیا، د معلوماتو شریکولو، پلان جوړونې او څارنې په بهیر کې د مرستنه ترلاسه کوونکو معنادار ګډون، د سرچینو اغېزمنې کارونې، او له تېروتنو څخه د زده‌کړې د سیستمونو پر اهمیت باور لرو. دغه تګلاره د بشري فعالیتونو د اغېز زیاتولو لپاره د رغنده وړاندیزونو منل او پلي کول تضمینوي، چې د منځنۍ مودې او کلنیو ارزونو له لارې یې ملاتړ کېږي.
افغاني سره میاشت به خپلو ټولو ښکېلو لورو ته چې ټولنې، مشران، رضاکاران، ځوانان، کارکوونکي او شریکان پکې شامل دي، د خپلو موخو او د اندازې وړ پایلو په اړه منظم راپورونه وړاندې کړي. دغه تحلیلي راپورونه به موندنې او د سمون وړاندیز شوې کړنې رانغاړي؛ څو د ټولو ښکېل لوري باوري شي. همدارنګه، د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال فدراسیون د معلوماتو بانک او راپور ورکولو سیستم (FDRS) ته به منظم تازه معلومات وړاندې شي.
اغېزمنتیا، حساب ورکونه او شفافیت د افغاني سرې میاشتې اساسي ژمنې دي. له همدې امله، د دې ستراتیژیک پلان په چوکاټ کې د کړنو د ارزونې لپاره د بریالیتوب شاخصونه شامل شوي دي. نوي شوي عملیاتي راپور ورکولو سیستمونه به د ډیجیټلي بهیرونو له لارې له نماینده‌ګیو څخه تر سیمه‌ییزو دفترونو او مرکزي دفتر پورې د حقیقي وخت معلومات راټول او یو ځای کړي. افغاني سره میاشت به د پنځه کلنې ستراتیژیکې مودې په اوږدو کې یو متحد، معیاري او دوامدار د معلوماتو مدیریت سیستم رامنځته او وساتي، چې د پروګرامي او عملیاتي معلوماتو راټولول، تحلیل، ذخیره کول او شریکول به پکې شامل وي، ترڅو پرېکړې په ټولو سازماني کچو کې د شواهدو پر بنسټ ترسره شي. د معلوماتو ساتنه، محرمیت او امنیت به د داخلي مقرراتو او د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال فدراسیون د معیارونو سره سم تضمین شي. د ملي او نړیوالو شریکانو سره معیاري همغږي او د معلوماتو تبادله به هم په عادي او هم په بیړنیو حالاتو کې اداري بڼه خپله کړي. د څارنې، ارزونې او معلوماتو مدیریت په برخو کې د مهارتونو د پیاوړتیا لپاره به د مرکزي دفتر، سیمه‌ییزو دفترونو او نمایندګیو په کچه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونه ترسره شي.
د ټولنې ګډون او حساب ورکونه (CEA) به د ۲۰۲۶–۲۰۳۰ کلونو د ستراتیژیک پلان په موده کې د افغاني سرې میاشتې د اغېزمن، باوري او د خلکو پر محور بشرپاله فعالیت بنسټیز ملاتړ کوونکی وي. افغاني سره میاشت به د ټولنې د ګډون منظم، ټولشموله او خوندي بهیر پیاوړی کړي او د ټولنې د نظریاتو او شکایتونو د ترلاسه کولو میکانیزمونه به په ټولو کاري شرایطو کې رامنځته او پراخ کړي، تر څو د ښځو، نارینو، ځوانانو، مشرانو او د معلولیت لرونکو کسانو غږونه په معنا لرونکي ډول د پرېکړو په بهیر کې شامل شي. د ټولنې ګډون او حساب ورکونه(CEA) به د پروګرام له ارزونې او طرحې څخه نیولې تر پلي کولو، څارنې او زده‌کړې پورې یو بنسټیز سازماني اصل وګرځي، نه یوازې یوه جلا کړنه. افغاني سره میاشت به د مرکزي دفتر او نمایندګیو په کچه د کارکوونکو، رضاکارانو او مشرتابه د ظرفیت لوړولو لپاره په واضح پالیسیو، معیاري عملیاتي کړنلارو، ډیجیټلي او غیر ډیجیټلي د نظریاتو سیستمونو او دوامدارې زده‌کړې پانګونه وکړي. د معلوماتو شریکولو پیاوړتیا، د خلکو د تمو شفاف مدیریت، د ټولنې د نظریاتو پر وخت ځواب ویلو، او د خوندیتوب، جنسیت او شمولیت (PGI) او د څارنې، ارزونې او زده‌کړې (MEAL) له دندو سره د ټولنې ګډون او حساب ورکونه(CEA) یو ځای کول به د ټولنې باور لا زیات کړي، د پروګرام کیفیت به لوړ کړي، او افغاني سره میاشت به د یو باوري، ځواب ویونکي او حساب ورکونکي ملي بشرپاله بنسټ په توګه نوره هم پیاوړې کړي.

**ج: په سیمه‌ییزه، ملي او نړیواله کچه د سرچینو برابرول**

افغاني سره میاشت ژمنه ده چې د بنسټیزو اصولو پر بنسټ په سیمه‌ییزه، ملي او نړیواله کچه خپلې بشرپاله همکارۍ، ډیپلوماسي او مشارکتونه پیاوړي او پراخ کړي. د غورځنګ بشرپاله او همغږۍ پلیټفارمونو کې د فعال ګډون او د غورځنګ د پرېکړو د پلي کولو له لارې، افغاني سره میاشت هڅه کوي چې د بشري خدمتونو لپاره هر ډول شراکتونه او نوښتونه لا پراخ کړي.

**په ملي کچه:** سره له دې چې افغاني سره میاشت له خپل مرستندویه رول څخه د باور وړ عواید ترلاسه کوي، موخه دا ده چې د بشرپاله مشارکتونو د رامنځته کولو لپاره خپلې وړتیاوې لا نورې هم وغځوي. دا به د انلاین مرستو د سیستمونو له لارې له انفرادي مرسته‌کوونکو، د افغان سوداګریز سکتور، د شتمنیو د اغېزمن مدیریت، د غړیتوب فیسونو، او د افغاني سرې میاشتې د ځانګړې اونۍ له لارې ترسره شي.

**په نړیواله کچه:** افغاني سره میاشت به د غورځنګ له بېلابېلو برخو او همدارنګه له ملي او نړیوالو شریکانو سره په همغږۍ کار وکړي، تر څو اغېزمن او دوامدار بشري خدمتونه وړاندې شي. په بشري فورمونو کې ګډون به پراخې همکارۍ، په سیمه‌ییزو او له سیمې هاخوا شبکو کې ګډون او غړیتوب، او د غورځنګ د همغږۍ میکانیزمونه رانغاړي. د ملي ټولنې د نړیوالو اړیکو د ځانګړې بنسټیز او بشري ظرفیتونه به پیاوړي شي، تر څو ستراتیژیک اهداف پلي شي، اغېزمنې اړیکې وساتل شي، او په دغو فورمونو کې فعاله ونډه تضمین شي. د غورځنګ له اصولو سره سم د همکارۍ تړونونه او د تفاهم نامې، او همدارنګه د بشري مشارکتونو د جلب او بسیج لپاره چمتو شوي وړاندیزونه، به د غورځنګ له برخو او نورو ملي او نړیوالو شریکانو سره د منظم، دوامدار او متمرکزه همغږو ناستو له لارې لا پیاوړي شي.

پای